د افغانستان بانک

# اقتصادي او احصائیوي بولټن

د افغانستان بانک ربعوار اقتصادي او احصائیوي بولټن

د ۱۳۹۵ مالي کال لومړی ربعه (۲۰۱۵ کال ډیسمبر له ۲۰ څخه ۲۰۱۶ د مارچ تر ۲۰ پورې)

د افغانستان بانک

# اقتصادي او احصائيوي بولټن

د افغانستان بانک ربعوار اقتصادي او احصائيوي بولټن

د ۱۳۹۵ مالي کال لومړی ربعه (۲۰۱۵ کال ډيسمبر له ۲۰ څخه ۲۰۱٦ د مارچ تر ۲۰ پورې)

ابن سینا واټ

کابل

افغانستان

ټلیفون ۲۱۰۳۹۳۲-۲۰-۹۳+

وب پاڼه: www.dab.gov.af

بریښنالیک: info@dab.gov.af

ټول حقونه خوندي دي

حقونه او اجازه لیکونه

په دې بولټن کې د ټولو مطالبو د خپرولو حق خوندي دی؛ خو نقلول او بیاځلي چاپول یې په آزاده توګه ترسره کېدای شي. د بیا چاپ لپاره د تصدیق پاڼې او د بولټن یوه کاپي لازمي ده.

**یادداښت:**

د افغانستان نوی مالي کال له ۱۳۹۱ (۲۰۱۲) کال راهیسې بدلون موندلی دی. نوی مالي کال هر کال د ډیسمبر په ۲۱ (د مرغومې لومړۍ نېټه) پیلیږي. دا درې میاشتنی بولټن د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړي ربعې( د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر له ۲۰ نېټې څخه د ۲۰۱۶ کال د مارچ تر ۲۰ نېټې پورې) اقتصادي او احصائیوي بدلونونه رانغاړي.

د محتویاتو لړلیک


عمومي کتنه ........................................ ۱
**۱– نړیوال اقتصادي وضعیت** ........................................ **۵**
۱. پرمختللي اقتصادونه ........................................ ۵
۲. راغوړېدونکي اقتصادونه ........................................ ۶
**۲– د بانګې او پولي بازار بدلونونه** ........................................ **۱۱**
۱. پولي پروګرام ........................................ ۱۱
۲. د نقدینګی حجم ........................................ ۱۲
۲.۱ خالصه نړیوالې زیرمې ........................................ ۱۵
۳. د اسعارو د مبادلې بازار ........................................ ۱۵
۴. د آزاد بازار عملیات او د سیالیت شرایط ........................................ ۱۵
۱.۴ د اسعارو لیلام ........................................ ۱۵
۲.۴ د بانګه ایزه پاڼو (کپټال نوټ) لیلام ........................................ ۱۵
۳.۵ الزامي او اضافي زیرمې ........................................ ۱۶
**۳– د انفلاسیون بهیر او لیدلوری** ........................................ **۱۹**
۱. په افغانستان کې د مصرفی توکو بیې ........................................ ۱۹
۱.۳ د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص بدلونونه ........................................ ۲۰
۲.۳ د کابل د مصرفي توکو د بیو په شاخص کې بدلونونه ........................................ ۲۳
**۴– د بهرني سکتور بدلونونه** ........................................ **۳۱**
۱.۴ د اداینو بیلانس ........................................ ۳۱
۲.۴ د توکو سوداګري ........................................ ۳۳
۳.۴ د سوداګرئ لوری ........................................ ۳۴
۴.۴ د سوداګرئ ترکیب ........................................ ۳۷
۵.۴ د صادراتو ترکیب ........................................ ۳۸
۶.۴ بهرني پوراینې ........................................ ۳۹
۷.۴ خالصه نړیوالې زیرمې ........................................ ۴۰
**۵– د مالي سکتور بدلونونه** ........................................ **۴۷**
۱.۵ د بودجې د اجراء نرخ ........................................ ۴۷
۲.۵ د بودجې کسر ........................................ ۴۷
۳.۵ د عوایدو راټولول ........................................ ۴۷

۴.۵ مالي مرستې.......... ۴۸
۵.۵ لګښتونه.......... ۴۹
**۶- د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی.......... ۵۳**
۱.۶ د بانکي نظام شتمنی.......... ۵۳
۲.۶ ناخالصه پورونه.......... ۵۵
۳.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات.......... ۵۸
۴.۶ پانګه اچونه.......... ۵۸
۵.۶ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات.......... ۵۸
۶.۶ پوراینې.......... ۵۸
۱.۶.۶ اماناتو.......... ۵۹
۲.۶.۶ پور اخیستنې.......... ۶۰
۷.۶ نقدینګی (سیالیت).......... ۶۰
۸.۶ پانګه.......... ۶۱
۱.۸.۶ د سیالیت نسبت (پراخه کچه).......... ۶۱
۹.۶ ګټورتیا (نافعیت).......... ۶۱
۱۰.۶ د اسعارو خطر.......... ۶۳
۱۱.۶ د ټکتانې د نرخ خطر.......... ۶۳

**د ګرافونو لیست**


۱.۱ ګراف: د کورني ناخالصه تولیداتو وده..........۵
۲.۱ ګراف: اقتصادي وده..........۷
۱.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې، د ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه..........۱۲
۲.۲ ګراف: پولي زیرمې، د ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه..........۱۲
۳.۲ ګراف: د M2 د ونډې په توګه جاري امانتونه..........۱۳
۴.۲ ګراف: د M2 د ونډې په توګه پیسه وزمه په سلنه..........۱۳
۵.۲ ګراف: خالصه نړیوالې زیرمې، ۲۰۱۶ مالي کال..........۱۵
۶.۲ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی اوسط نرخ، ۲۰۱۶ مالي کال..........۱۵
۷.۲ ګراف: د پانګه ایزو پاڼو ناتصفیه شوي ونډه ، ۲۰۱۶ مالی کال، لومړۍ ربعه..........۱۶
۱.۳ ګراف: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص (کال په کال)..........۱۹
۲.۳ ګراف: اصلي انفلاسیون (۳۰ سلنه د اوسط پیدا کولو میتود)..........۲۰
۳.۳ ګراف: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص (ربعه په ربعه)..........۲۲
۴.۳ ګراف: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص(کال په کال)..........۲۳
۵.۳ ګراف: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص(ربعه په ربعه)..........۲۵
۱.۴ ګراف: د جاري حساب د اداینو بیلانس..........۳۱
۲.۴ ګراف: د پانګې ایز حساب..........۳۲
۳.۴ ګراف: مالي حساب..........۳۲
۴.۴ ګراف: بهرني مستقیمه پانګونه او د پورټوفولیو داخلي بهیدنې..........۳۲
۵.۴ ګراف: د سوداګرۍ کړنه او د سوداګرۍ بیلانس..........۳۳
۶.۴ ګراف: د سوداګرۍ کړنه او د سوداګرۍ بیلانس (په میلیون امریکایي ډالرو)..........۳۴
۷.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه..........۳۴
۸.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۴ مالي کال لومړۍ ربعه..........۳۴
۹.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه..........۳۵
۱۰.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۴ مالي کال لومړۍ ربعه..........۳۵
۱۱.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۴ مالي کال لومړۍ ربعه..........۳۷
۱۲.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه..........۳۷
۱۳.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه..........۳۸
۱۴.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۴ مالي کال لومړۍ ربعه..........۳۸
۱۵.۴ ګراف: د بهرني پورونو پرتله کول، د ۱۳۹۳ مالي کال درېمه ربعه او د ۱۳۹۴ کال درېمه ربعه..........۳۹

۱۶.۴ ګراف: د تېرې ربعې خالصه نړیوالې زیرمې (په میلیون امریکایي ډالر) ........ ۴۱
۱.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو ترکیب، ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه ........ ۴۷
۲.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو پرتله کول د ۲۰۱۶ مالي کال لومړی ربعه او د ۲۰۱۵ مالي کال لومړۍ ربعه ........ ۴۷
۳.۵ ګراف: د مالیاتي عوایدو پرتله کول ........ ۴۸
۴.۵ ګراف: د مالیاتي عوایدو ترکیب ........ ۴۸
۵.۵ ګراف: د ملي بودجې د سرچینو تمویلول، ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه ........ ۴۹
۶.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د مرستو پرتله کول د ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه ........ ۴۹
۷.۵ ګراف: د حکومت د ټولیز لګښت ترکیب د ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه ........ ۴۹
۱.۶ ګراف: په بانکي سکتور ونډه (ټولیزه شتمنۍ) ........ ۵۴
۲.۶ ګراف: د بانکي سکتور کې د بانکي ډلو ونډه (ټولیزه شتمنۍ) ........ ۵۵
۳.۶ ګراف: د پور د پورټوفولیو کیفیت ........ ۵۷
۴.۶ ګراف: د بانکي ډلو کې د بانکونو ترمنځ د طلباتو ونډه ........ ۵۸
۵.۶ ګراف: پوراینې ۴.۴۶ میلیارده افغانۍ یا ۱.۸۱ سلنه راکم شوي دي ........ ۵۹
۶.۶ ګراف: د امانتونو د اسعارو ترکیب ........ ۵۹
۷.۶ ګراف: په افغانۍ نومول شوي امانتونه ........ ۵۹
۸.۶ ګراف: امانتونه ۲.۵۱ سلنه یا ۵.۹۴ میلیارده افغانۍ راکمې شوي دي ........ ۶۰
۹.۶ ګراف: د امانتونو ویشنه ........ ۶۰
۱۰.۶ ګراف: د بانکي نظام ګټورتیا ........ ۶۲
۱۱.۶ ګراف: له شتمنۍ او اکویټۍ څخه ترلاسه شوې ګټه ........ ۶۲
۱۲.۶ ګراف: د تکتاتې نهایي نرخ ........ ۶۲

## د جدولونو لیست


۱.۲ جدول: د ۱۳۹۵ مالي کال لپاره د نقدینګی حجم.......... ۱۴
۱.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص ویشنه (کال په کال).......... ۲۱
۲.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص ویشنه (ربعه په ربعه).......... ۲۲
۳.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص ویشنه (کال په کال).......... ۲۴
۴.۳ جدول: د کابل عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص ویشنه (ربعه په ربعه).......... ۲۶
۱.۴ جدول: د سوداګریزو توکو ویشنه.......... ۳۳
۲.۴ جدول: د بهرني سوداګرۍ لوری، د ۱۳۹۴ مالي کال.......... ۳۶
۳.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لوری، د ۱۳۹۳ مالي کال.......... ۳۶
۴.۴ جدول: د بهرني پوراینې ویشنه، د ۲۰۱۴ مالي کال.......... ۴۰
۵.۴ جدول: د توکو سوداګري (په میلیون امریکایي ډالرو).......... ۴۱
۶.۴ جدول: د افغانستان د اداینو بیلانس (په میلیون امریکایي ډالرو).......... ۴۲
۷.۴ جدول: د بهرني سوداګرۍ لوری: د ۱۳۹۴ مالي کال لومړۍ ربعه.......... ۴۳
۸.۴ جدول: د بهرني سوداګرۍ لوری: د ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه.......... ۴۳
۹.۴ جدول: خالصه نړیوالې زیرمې، د ۱۳۹۴ مالي کال.......... ۴۴
۱.۶ جدول: د شتمنۍ او پوراینې ترکیب.......... ۵۴
۲.۶ جدول: د کریډټ سکتوري ویش.......... ۵۶
۳.۶ جدول: د بانکي سکتور د سلامتیا مهم مالي شاخصونه.......... ۶۰
۴.۶ جدول: د ګټې او زیان جدول.......... ۶۲

# د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی



خلیل صدیق

د افغانستان بانک لوی رئیس



واحد الله نوشیر

د افغانستان بانک لومړی مرستیال



محمد قسیم رحیمي

د افغانستان بانک دویم مرستیال



## د لوی رئیس پیغام

”د افغانستان بانک د پالیسیو او هڅو موخه د ټولنې د ډېرو زیانمننونکو برخو ساتنه ده چې دا چاره د سالم او اغیزناکه پولي سیاست د تطبیقولو له لارې چې تمرکز یې د بیو پر ثبات (د بانك لومړني هدف) باندې دی، ترسره کیږي.“

**عمومي کتنه**

د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې د هېواد د ټولو سکتورونو اقتصادي کړنې کمزوره شوي دي. د هېواد دوامداره اقتصادي او سیاسي کړکیچ اقتصادي وده او خصوصي او عامه پانګونې کمزوره کړي دي. همدا ډول، تر کار لاندې سمونونه لکه د بریښنا د مزي غځول، د کورني عوایدو زیاتول او د خصوصي پانګونو د تشویق لپاره هڅې د اقتصادي ټیکاو د بیرته لاسته راوړلو لپاره د افغانستان یووالي حکومت ژمنه ښکاره کوي. د یادولو وړ ده چې دا ډول اصلاحات د نړیوال اقتصادي کمزورتیا په وړاندې د افغانستان د اقتصاد څخه ساتنه کړې ده.

د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې د مصرفي توکو بیو د پام وړ لوړوالی تجربه کړی دی. عمومي انفلاسیون د ۰.٦ سلنه (کال په کال) دیفلاسیوني نرخ څخه ۳.۸ سلنې ته لوړ شوی دی. د ارزونې لاندې موده کې لوړ انفلاسیون د سهیلي آسیا د بهرني سوداګریزو توکو د لوړې بیې او د نورو کورني عواملو له امله رامنځ ته شوی دی. که څه هم د ۲۰۱٦ کال د لومړي ربعې په پای کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ بی ارزښته کېدل د مصرفي توکو د بیو پر شاخص باندې د انفلاسیوني فشارونو یوازینی لامل و.

همدا ډول د مالي کال په پیل کې د عامه سکتور عمومي کړنه د پارلمان لخوا د بودجې په تصویب کې د ځنډ له امله ټکنی وه چې له امله یې د بسپنه ورکوونکو مرستې هم راکمې شوې. له دې سربېره، د ۱۳۹۵ مالي کال کې د افغانستان د عامه سکتور لګښتونه د امنیتي شرایطو د خرابېدو له امله چې خصوصي پانګونه یې زیانمنه، د بودجې اجرا یې ځنډولې او د پانګې د تیښتې سبب شوی، نامتوازنه و.

د ادایني د بیلانس شمېرې د بهرني سکتور کړنه کمزوره ښکاره کوي. د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې د جاري حساب کسر هغه مهال د پام وړ زیاتوالی ښکاره کړ چې د تېر کال د ورته مودې سره پرتله شو. دا کسر په لویه کچه د خدمتونو او عایداتي حساب کې د بهیدنو د کموالي او په عمده توګه د کورني لیږدېدونکي وجوه په توګه د کورني لیږدونو په کموالي پورې تړاو لري. په لومړي ربعه کې د سوداګرۍ کسر (د توکو سوداګري) ۱ سلنه لوړه شوې چې ۱،۴۸۲.۵۱ میلیون امریکایي ډالرو ته رسېږي په داسې حال کې چې دا کسر د تېر کال په ورته موده کې ۱،۵۰۰.۵۱ میلیون امریکایي ډالره و. همدا شان د اداینو د بیلانس د پانګې حساب د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې په پرتله د پانګې د لېږو داخلي لیږدونو له امله ۴۴ سلنه کموالی ښکاره کوي.

# ۱

# نړیوال اقتصادي وضعیت

# ۱
## نړیوال اقتصادي وضعیت

د نړۍ اقتصاد د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې ۰.۹ سلنه وده موندلې چې د ۲۰۱۵ کال د څلورمې ربعې د ۰.۷۸ سلنې په پرتله لږ څه لوړه ده. دا وده د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعې کې د پرمختللو اقتصادونو د ۰.۶ سلنې ودې او په پرمختللونکو اقتصادونو کې د ۱.۱ سلنې ودې په رڼا کې په پام کې نیول شوې ده.

**۱. پرمختللي اقتصادونه**


پرمختللو اقتصادونو د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې د تېرې ربعې په پرتله نسبتاً لږه وده تجربه کړې ده. د امریکې اقتصاد ۰.۸ سلنه وده کړې چې د ۲۰۱۵ کال د څلورمې ربعې د ۰.۹ سلنې په پرتله لږ څه کموالی ښکاره کوي. د ۲۰۱۴ کال راهیسې د ۲۰۱۶ کال د لومړي ربعې شمېره تر ټولو لږه وده څرګندوي چې لامل یې د مصرفي توکو د لګښت کموالی، کمزوره پانګونه او د سوداګریزو توکو نامطلوب وضعیت ښودل شوي دي. د امریکې اقتصاد ته ورته د یورو سیمې اقتصاد هم د ۲۰۱۶ کال په لومړیو درېو میاشتو کې ۰.۶ سلنه وده کړې ده چې د تېرې ربعې د اټکل شوې ۰.۴ سلنې په پرتله لوړه ده چې عمده لاملونه یې کورني لګښتونه او د خصوصي پانګونې زیاتېدل دي چې دې ودو په تېر کال کې تر ټولو پیاوړې کړنه درلودلې ده.

همدا رنګه د بریتانیې اقتصاد د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې ۰.۴ سلنه وده موندلې چې د تېرې ربعې په پرتله ۰.۷ سلنه ټیټه ده. د بریتانیې اقتصاد د کمزورې ودې اصلي عوامل د سوداګریزې پانګونې او د صادراتو کموالی ښودل شوی دی.

د جاپان اقتصاد د لومړني اټکل په پرتله چې ۰.۴ سلنه وده ښودل شوې وه، د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې ۰.۵ سلنه وده موندلې ده. خصوصي لګښتونو د تمې څخه زیاته وده موندلې، حال دا چې سوداګریز لګښتونه بیا د اټکل څخه ډېر لږ و، خو د حکومت لګښتونو او صادراتو بیا د تمو سره برابره وده کړې ده.

د جرمني اقتصاد د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې د موسم پر اساس عیار شوی ۰.۷ سلنه وده موندلې چې د تېرې ربعې د ۰.۳ سلنې څخه یې ډېره چټکه وده کړې ده. دا د ۲۰۱۵ کال د لومړي ربعې راپدېخوا تر ټولو پیاوړې وده ده چې د کورني لګښتونو او د پانګونې د چټکه زیاتوالي له امله رامنځ ته شوې، که څه هم د بهرني سوداګرۍ پر ودې باندې لږ څه ټیټېدونکې اغېزه پرې ایښې ده.

۱.۱ ګراف: د کورني ناخالصه تولیداتو وده




د یورو په سیمه کې د مصرفي توکو بیې د ۲۰۱۶ کال په مارچ میاشتې کې ۰.۳ سلنه زیاته شوه چې د تېرې ربعې د ۰.۲ سلنې څخه زیاتوالي ښکاره کوي. دا شمېره د پرمختللو اقتصادونو شمېرې سره نږدې ده، خو د روسیې، هند او چین په شان راغوړېدونکو اقتصادونو څخه ډېره لږه ده. د امریکې د انفلاسیون نرخ د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې ۱.۱ سلنه و چې د ۲۰۱۵ کال د څلورمې ربعې د ۰.۴۶ سلنې څخه لوړوالی په ګوته کوي، چې د دې زیاتوالي اصلي لاملونه د استوګنځي او د روغتیا ساتنې د بیو زیاتېدل ښودل شوي دي.

په بریتانیې کې د مصرفي توکو بیې د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر میاشتې د ۰.۲ سلنې څخه د ۲۰۱۶ کال د مارچ میاشتې ۰.۵ سلنې ته چټکه وده موندلې ده. د کور جوړونې او تسهیلاتو بیې په درېو میاشتو کې د لومړي ځل لپاره لوړې شوې او د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر میاشتې راهیسې د سرګرمۍ او کلتوري چارو تر ټولو زیاته وده درلودلې ده.

په جاپان کې د مصرفي توکو بیې د ۲۰۱۶ کال په مارچ

میاشتې کې صفر سلنې ته راولوېدلې، حال دا چې د ۲۰۱۵ کال په څلورمه ربعه کې دا شمېره ۰.۲ سلنه وه. د خوراکي توکو بیې د درېمې پرله پسې میاشتې لپاره رانښکته شوې او همدا ډول د کور جوړونې او ټرانسپورټ لګښت راکم شوی دی.

په جرمني کې د مصرفي توکو بیې د ۲۰۱۶ کال په مارچ میاشتې کې ۰.۳ سلنه لوړ شوی چې د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر میاشتې له نرخ څخه یې بدلون موندلی نه دی. د انرژۍ بیه ورو ورو راکمه شوه، حال دا چې د خدمتونو بیې لازیاتې شوې.

د یورو په سیمه کې د بېکارۍ د موسم پر اساس عیار شوی نرخ د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړي ربعه کې ۱۰.۴ سلنه پاتې شوی دی.

د امریکې د کار بازار په لویه اندازه وده موندلې او د بېکارۍ نرخ د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې ۴.۹ سلنې ته راغورځېدلی دی چې د ۲۰۱۵ کال د څلورمې ربعې د ۵.۸ سلنې څخه ټیټوالی په ګوته کوي، حال دا چې په بریتانیې کې د بېکارۍ نرخ د ۲۰۱۵ کال په څلورمه ربعه او د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې ۵.۱ سلنه پاتې شوی دی. دا د ۲۰۰۵ کال راهیسې په دې هېواد کې تر ټولو ټیټ نرخ دی.

په جاپان کې د بېکارۍ نرخ چې د موسم پر اساس عیار شوی د ۲۰۱۶ کال په مارچ میاشتې کې ۳.۲ سلنه ثبت شوی دی چې د تېرو دوو میاشتو په پرتله ۰.۱ سلنه لوړوالی او د بازار د تمو سره حرکت کوي. دا نرخ بیا په جرمني کې نسبتاً لوړ و. د موسم پر اساس عیار شوی بېکارۍ نرخ د ۲۰۱۶ کال په مارچ میاشتې کې ۴.۳ سلنه دی، حال دا چې په تېره ربعه کې ۴.۴ سلنه و. په جرمني کې د بېکارۍ نرخ په تېرو ۳۵ کلونو کې تر ټولو ټیټه کچه کې پاتې شوی دی.

د یورو سیمې د سوداګرۍ ډېرښت د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې ۳۳.۱۳ میلیارده امریکایي ډالره ثبت شوی چې د ۲۰۱۵ کال په څلورمه ربعه کې ۲۹.۳۲ میلیارده امریکایي ډالره و. د کال د لومړیو پنځو میاشتو په پام کې نیولو سره، د سوداګرۍ ډېرښت ۱۱۹.۸۳ میلیارده امریکایي ډالرو ته زیات شوی دی چې د ۲۰۱۵ کال په ورته موده کې دا شمېره ۹۷.۷۵ میلیارده امریکایي ډالره وه. همدا رنګه، په امریکې کې د سوداګرۍ کسر د ۲۰۱۶ کال په مارچ میاشتې کې ۳۵،۵۳۶ میلیارده امریکایي ډالرو ته راکم شوی چې دا کسر د ۲۰۱۵ کال په ډیسمبر میاشتې کې ۴۱،۴۸۷ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسېده.

په بریتانیې کې سوداګریز کسر د ۲۰۱۵ کال د څلورمې ربعې د ۲.۷۵ میلیارده امریکایي ډالرو څخه د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې له ۱.۷ میلیارده امریکایي ډالرو څخه تر ۵.۷۵ میلیارده امریکایي ډالرو پورې لوړ شوی دی. د وارداتو کچه د صادراتو په پرتله په دې کال کې د لومړي ځل لپاره راولوېده.

جاپان د ۲۰۱۶ کال په مارچ میاشتې کې ۶.۶۳ میلیارده امریکایي ډالره کسر ثبت کړی، حال دا چې په تېره ربعه کې یې ۱.۲۳ میلیارده امریکایي ډالره ډېرښت درلوده. دا د جنورۍ میاشتې راهیسې د جاپان لومړی کسر و. صادرات ۱۱.۳ سلنه او واردات ۱۳.۸ سلنه راکم شوي چې د بازار له شرایطو سره جوړښت لري.

په جرمني کې د صادراتو د ډېرېدو سره د سوداګرۍ ډېرښت د ۲۰۱۶ کال په مارچ میاشتې کې ۲۹.۷۶ میلیارده امریکایي ډالرو ته لوړ شوی، حال دا چې وارداتو د درېمې پرله پسې میاشتې لپاره هېڅ وده درلودلې نه ده. په جرمني کې د سوداګرۍ ډېرښت د ۲۰۱۵ کال په څلورمه ربعه کې ۲۱.۲۶ میلیارده امریکایي ډالره ثبت شوی دی.

**۲. راغوړېدونکي اقتصادونه**


د بازار په راغوړېدونکي اقتصادونو کې وده ډېره لږه وه او ډېرو دغو اقتصادونو کمزوره وده تجربه کړې ده. چې د چین د اقتصادي فعالیت د راکمېدو له امله په لویه اندازه اغېزمن شوی دی.

د چین اقتصاد د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې ۱.۲ سلنه وده موندلې چې د تېرې ربعې د ۱.۸ سلنې ودې څخه لږه ده او د ۲۰۱۳ کال د جولای میاشتې راپدېخوا ترټولو ټیټه کچه کې واقع کېږي. همدا ډول د روسیې د کورني ناخالصه تولیداتو

نرخ د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې منفي ۰.۳ سلنې ته راکم شوی چې ښايي د ۲۰۱۵ کال د څلورمې ربعې د منفي ۰.۵۷ سلنې څخه يې وده موندلې ده. داسې باور کيږي چې د صادراتو او د مصرفي توکو د لګښت راکمېدنه د روسيې د منفي ودې تر شا ستر عوامل وي.

په هند کې کورني ناخالصه توليداتو د ۲۰۱۵ کال د وروستي ربعې په پرتله د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې ۲.۱۰ سلنه وده کړې ده. د يادولو وړ ده چې په هند کې د ۱۹۹۶ کال څخه تر ۲۰۱۶ کاله پورې د کورني ناخالصه توليداتو د ودې اوسط نرخ ۱.۶۷ سلنه دی چې د ۲۰۰۹ کال په دوهمه ربعه کې تر بل هر وخت زيات ۵.۸۰ سلنې ته رسېدلی دی او د همدې کال په لومړي ربعه کې بيا تر ټولو ټيټه کچه منفي ۱.۸۰ سلنه کې واقع شوی دی.

۲.۱ ګراف: اقتصادي وده




په روسيه کې د مصرفي توکو بيې د ۲۰۱۶ کال د فبرورۍ مياشتې د ۱۲.۹ سلنې څخه په مارچ مياشتې کې ۷.۳ سلنې ته راولوېدې. دا نرخ د بازار د تمو څخه چې ۷.۴ سلنه و، ښکته و. د خوراکي توکو، کور جوړونې او د ټرانسپورټ بيې راکمې شوې خو د سرګرمۍ او کلتوري چارو بيې بيا په کراره لوړې شوې. د دې خلاف، د انفلاسيون نرخ د ۲۰۱۶ کال د لومړي ربعې په پای کې ۲.۳ سلنه ثبت شوی چې د ۲۰۱۵ کال د څلورمې ربعې د ۱.۶ سلنې څخه لوړوالی ښکاره کوي. د انفلاسيون نرخ لاهم د ۲۰۱۶ کال لپاره د حکومت د ۳ سلنې هدف څخه ښکته دی.

په هند کې د مصرفي توکو بيې د ۲۰۱۶ کال په مارچ مياشتې کې ۴.۸۳ سلنې ته لوړې شوې چې دا شمېره په تېره ربعه کې ۵.۵۶ سلنه ثبت شوې ده.

د هر بل راغوړېدلي يا راغوړېدونکي اقتصاد په پرتله د روسيې د بېکارۍ نرخ د ۲۰۱۶ کال په مارچ مياشتې کې تر ټولو لوړ و چې کچه يې ۶ سلنې ته رسېږي چې د تېرې ربعې (۲۰۱۵ کال د ډيسمبر مياشتې) د ۵.۸ سلنې څخه لوړوالی په ګوته کوي.

د چين د اقتصادي تشکيلاتي بدلون سره سره د بېکارۍ نرخ د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې د ۴ سلنې څخه لږ پورته ثابته پاتې شوی دی. په چين کې د بېکارۍ نرخ د ۲۰۰۲ کال څخه تر ۲۰۱۶ کاله پورې په اوسط توګه ۴.۱۳ سلنه پاتې شوی دی.

د روسيې د سوداګرۍ ډېربښت د ۲۰۱۶ کال په مارچ مياشتې کې د پام وړ ۷.۹۶ ميلیارده امريکايي ډالره راکم شوی، حال دا چې په تېره ربعه کې دا نرخ ۱۱.۳ ميلیارده امريکايي ډالره و. په روسيې کې صادرات ۲۸.۳ سلنه او واردات ۵.۵ سلنه راغورځېدلي دي.

د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړي ربعه کې د چين د سوداګرۍ ډېربښت د تمې څخه ډېر لږ و. د چين د سوداګرۍ ډېربښت د ۲۰۱۵ کال د څلورمې ربعې د ۵۹.۶۳ ميلیارده امريکايي ډالرو څخه د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې ۲۸.۷ ميلیارده امريکايي ډالرو ته راکمه شوې چې د صادراتو د پام وړ کمېدو او د وارداتو د زياتېدو لامل شوی دی.

په هند کې د سوداګرۍ کسر د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې ۵.۰۷ ميلیارده امريکايي ډالرو ته راکم شوی دی چې د ۲۰۱۵ کال په څلورمه ربعه کې دا شمېره ۱۱.۶۴۴ ميلیارده امريکايي ډالره و. په هند کې د سوداګرۍ بيلانس د صادراتو د بې ساري زياتوالي او د نفتو بيو د راکمېدو له امله ښه شوی دی.

۲

# د پانګې او پولي بازار بدلونونه

## ۲
# د پانګې او پولي بازار بدلونونه

د پولي او پانګې بازار د بدلونونو دا څېرکی د پولي پروګرام، د نقدینګۍ حجم، د خالصه نړیوالې زیرمې، د اسعارو نرخونو او د دې ترڅنګ د ازاده بازار د عملیاتو او د سیالیت د شرایطو په اړه لنډه توضیح وړاندې کوي.

د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې (د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر ۲۲ څخه د ۲۰۱۶ کال د مارچ ۱۹ پورې) پولي زیرمې چې د افغانستان بانک مهم عملیاتي هدف دی، شاوخوا ۶.۳۵ سلنه منفي وده تجربه کړې چې د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړي ربعه کې ۲۱۲،۵۴۸.۰۲ میلیون افغانۍ ته رسېدې. په ګردښت کې پیسې چې د افغانستان بانک ضمني هدف جوړوي، د ارزونې لاندې موده کې ۵.۸۶ سلنه راکمه شوې چې ارزښت یې ۱۸۹،۶۱۷.۶۰ میلیون افغانۍ ته رسېږي.

د محدوده مفهوم په توګه پیسې هم د ارزونې لاندې موده کې ۳۶۶،۶۷۹ میلیون افغانۍ دي چې شاوخوا ۳.۵۸ سلنه (ربعه په ربعه) وده یې ثبت کړې ده. د پراخه مفهوم په توګه پیسې هم ورته بهیر ښکاره کوي او ارزښت یې د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړي ربعه کې ۳۹۴،۲۹۰ میلیون افغانۍ ته رسېږي چې ۵.۴۸ سلنه وده یې موندلې ده.

د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړي ربعه کې د افغانستان بانک خالصه نړیوالې زیرمې ۱.۹۱ سلنه زیاتوالی ثبت کړی چې ۶،۵۴۶.۸۳ میلیون امریکایي ډالرو ته رسېږي.

د ۲۰۱۶ مالي کال د لومړي ربعې په پای کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ ارزښت د ۲۰۱۵ مالي کال د لومړي ربعې په پرتله ۱۸.۲۹ سلنه کم شوی دی.

د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړي ربعه کې د افغانستان بانک په ټولیزه توګه ۴۷۹.۲۴ میلیون امریکایي ډالره لیلام کړي دي چې په بازار کې سیالیت مدیریت کړي او د دې ترڅنګ د اسعارو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ شدیده نوسانات راکم کړي. د پانګه ایزو پاڼو نا تصفیه شوي ټولیز مبلغ د ارزونې لاندې مودې په پای کې ۳۲.۱۲ میلیارده افغانۍ ته رسېږي.

### ۱. پولي پروګرام


د کورني بیو د ثبات لپاره چې د افغانستان بانک عمده هدف جوړوي، د افغانستان بانک د پولي زیرمې د کچې د ټاکلو په موخه د پیسو له مقداري تیورۍ څخه کار اخلي. له همدې کبله په اړوندې مودې کې د پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو ټاکل شوي هدفونه د تمې وړ اقتصادي ودې او انفلاسیون سره منطبق دي.

د افغانستان بانک د تېرو تجربو او په کورني بازار کې د افغانۍ لپاره د لوړې تقاضا په پام کې نیولو سره د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې د پولي زیرمې او په ګردښت کې د پیسو لپاره په ترتیب سره منفي ۴.۹۵ سلنه او منفي ۳.۴۶ سلنه کچه ټاکلې ده. د تېرو بدلونونو په پام کې نیولو سره حقیقي پولي زیرمې او په ګردښت کې پیسې له ټاکلي هدف څخه ډېر ښکته پاتې شوي چې ۶.۳۵ او ۵.۸۶ سلنه منفي وده کړې ده.

د افغانستان بانک د راپور ورکولو په موده کې په دوامداره توګه سخته مالي پالیسي تطبیق کړې څو په بازار کې اضافه نقدینګي جذب او د اسعارو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې اسمي نرخ له نوسان څخه مخنیوی وکړي.

۱.۲ او ۲.۲ ګراف د ارزونې لاندې موده کې په ګردښت کې د پیسو او د پولي زیرمو کچه وړاندې کوي.

**۱.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې، د ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه**
**(د ۲۰۱۵ ډیسمبر ۲۲ څخه د ۲۰۱۶ مارچ ۱۹ پورې)**




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۲.۲ ګراف: پولي زیرمې، ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه**
**(د ۲۰۱۵ ډیسمبر ۲۲ څخه د ۲۰۱۶ مارچ ۱۹ پورې)**




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

## ۲. د نقدینګۍ حجم

د محدوده مفهوم په توګه پیسې چې په ۱.۲ جدول کې ښودل شوي دي، د ۲۰۱۵ مالي کال د څلورمې ربعې د ۴.۴ سلنې په پرتله د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې ۳.۵۸ سلنه وده موندلې ده چې ۱۲،۶۸۰ میلیون افغانۍ توپیر ښکاره کوي. د امانت ساتونکو ادارو څخه بهر پیسې یا په ګردښت کې پیسې چې د محدوده مفهوم په توګه پیسو ستره برخه جوړوي (۵۰ سلنه)، د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړي ربعه کې ۵.۵۵ سلنه وده موندلې چې تېر کال په لومړي ربعه کې دا نرخ ۷.۳ سلنه ثبت شوی دی. د ۲۰۱۵ کال د لومړي ربعې او د ۲۰۱۶ کال د لومړي ربعې ترمنځ د امانت ساتونکو ادارو څخه بهر پیسو تفاوت ۹،۶۷۴ میلیون افغانۍ دی. جاري حساب چې د محدوده مفهوم په توګه د پیسو بله ستره برخه جوړوي، د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړي ربعه کې ۱.۶۷ سلنه وده تجربه کړې ده، حال دا چې درې میاشتنی وده یې ۱.۸ سلنه ده.


د پراخه مفهوم په توګه د پیسو عرضه د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړي ربعه کې ۳۹۴،۲۹۰ میلیون افغانۍ زیاته شوې چې د تېر کال په ورته ربعه کې ۳۷۳،۵۷۹۵ میلیون افغانۍ ته رسېده چې ۵.۴۸ سلنه لوړوالی ښکاره کوي. د اوسني مودې شمېرې ښیي چې د محدوده مفهوم په توګه پیسې د پراخه مفهوم په توګه د پیسو لویه جوړونکې برخه (۹۳ سلنه) پاتې شوې ده.

د سوداګریزو بانکونو پیسه وزمه یا موده ایز امانتونه چې د پراخه مفهوم په توګه د پیسو بله برخه جوړوي، د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړي ربعه کې (کال په کال) ۳۹.۴۷ سلنه وده کړې ده. پیسه وزمه د ارزونې لاندې موده کې د پراخه مفهوم په توګه د پیسو یوازې ۷ سلنه جوړوي چې د ۲۰۱۶ مالي کال د لومړي ربعې د ۵ سلنې څخه لوړ دی، خو د پراخه مفهوم په توګه پیسو باندې د پیسه وزمې د بدلونونو اغېزه لاهم ډېره لږه ده. په افغانۍ نومول شوي د موده ایز امانتونو کال په کال توپیر ۱،۹۰۹ میلیون افغانۍ دی، حال دا چې په اسعارو نومول شوي موده ایز امانتونه ۱۸،۷۸۴ میلیون افغانۍ ثبت شوي چې د تېر کال په پرتله ۴۵.۸۶ سلنه لوړوالی ښکاره کوي. په افغانۍ نومول شوي موده ایز امانتونه د پراخه مفهوم په توګه د پیسو ۲ سلنه جوړوي، په داسې حال کې چې په اسعارو نومول شوي د موده ایزو امانتونو ونډه د ارزونې لاندې موده کې د پراخه مفهوم په توګه د پیسو ۵ سلنه جوړوي.

د M2 د ونډې په توګه جاري امانتونه د ارزونې لاندې ربعه کې (کال په کال) ۴۶ سلنې ته راکم شوي چې تېر کال د ورته مودې په پرتله ۸ سلنه ټیټوالی په ګوته کوي.


۳.۲ او ۴.۲ ګرافونه د پولي تراکم او د هغه د اجزاوو په اړه ځینې معلومات څرګندوي.

**۳.۲ ګراف: د M2 د ونډې په توګه جاري امانتونه، په سلنه**




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۴.۲ ګراف: د M2 د ونډې په توګه پیسه وزمه په سلنه**




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۱.۲ جدول: د ۱۳۹۵ مالي کال لپاره د نقدینګی حجم ( د ۲۰۱۵ د ډیسمبر څخه د ۲۰۱۶ مارچ پورې)**

شمېرې په میلیون افغانی، مګر دا چې په بل ډول بیان شوی وي.


| په میلیون افغانی | لومړی ربعه، ۲۰۱۴ مبلغ | لومړي ربعه، ۲۰۱۵ مبلغ | کال په کال | توپیروالی | لومړی ربعه، ۲۰۱۶ مبلغ | کال په کال | توپیروالی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱- خالصه بهرني شتمنی | 468,329 | 483,627 | 3.3% | 15,298 | 548,969 | 13.51% | 65,342 |
| (الف) بهرني شتمنی | 497,107 | 509,667 | 2.5% | 12,560 | 581,123 | 14.02% | 71,455 |
| د افغانستان بانک د اسعارو زیرمې | 409,184 | 425,334 | 3.9% | 16,149 | 477,665 | 12.30% | 52,332 |
| سره زر | 47,509 | 47,509 | 0.0% | 0 | 51,513 | 8.43% | 4,004 |
| نور شتمنی | 361,676 | 377,825 | 4.5% | 16,149 | 426,152 | 12.79% | 48,328 |
| نور بهرني شتمنی | 87,923 | 84,334 | -4.1% | -3,589 | 103,457 | 22.68% | 19,124 |
| (ب) بهرني پوراینې | 28,778 | 26,040 | -9.5% | -2,738 | 32,153 | 23.48% | 6,113 |
| ۲. خالصه کورني شتمنی | -108,324 | -109,808 | 1.4% | -1,483 | -154,485 | 40.69% | -44,677 |
| (الف) خالص کورنی کریډټ | -52,962 | -31,895 | -39.8% | 21,067 | -24,097 | -24.45% | 7,799 |
| د غیر مالي عامه سکتور لپاره خالص کریډټ | -97,933 | -71,840 | -26.6% | 26,093 | -72,640 | 1.11% | -800 |
| د مرکزي حکومت لپاره خالص کریډټ | -97,874 | -71,754 | -26.7% | 26,120 | -72,735 | 1.37% | -980 |
| د مرکزي حکومت لپاره کریډټ | 34,473 | 59,088 | 71.4% | 24,615 | 61,164 | 3.51% | 2,076 |
| د مرکزي حکومت لپاره پوراینې | 132,347 | 130,842 | -1.1% | -1,505 | 133,898 | 2.34% | 3,057 |
| د مرکزي او سیمه ایز حکومت لپاره خالص کریډټ | 0.000 | 0.000 | 0.0% | 0 | 0.000 | 0.000 | 0 |
| د عامه غیر مالي شرکتونو لپاره خالص کریډټ | -59 | -86 | 44.9% | -27 | 94 | -210.15% | 180 |
| د خصوصي سکتور لپاره کریډټ | 46,320 | 41,588 | -10.2% | -4,732 | 49,974.50 | 20.16% | 8,386 |
| د نورو مالي شرکتونو لپاره خالص کریډټ | -1,349 | -1,644 | 21.8% | -295 | -1,430.80 | -12.96% | 213 |
| (ب) د پانګې حسابونه | 104,187 | 95,499 | -8.3% | -8,688 | 142,589 | 49.31% | 47,090 |
| (ج) نور خالص اقلام | 48,825 | 17,586 | -64.0% | -31,238 | 12,200 | -30.63% | -5,386 |
| ۳- د پراخه مفهوم په توګه پیسې | 359,990 | 373,795 | 3.8% | 13,804 | 394,290 | 5.48% | 20,495 |
| د محدوده مفهوم په توګه پیسې | 338,934 | 353,998 | 4.4% | 15,065 | 366,679 | 3.58% | 12,680 |
| په ګردښت کې پیسې (هغه پیسې چې د امانات ایښودونکو شرکتونو څخه بهر دي) | 162,368 | 174,174 | 7.3% | 11,806 | 183,848 | 5.55% | 9,674 |
| جاري امانتونه | 176,566 | 179,824 | 1.8% | 3,259 | 182,830 | 1.67% | 3,006 |
| نور امانتونه (پیسه وزمه) | 21,057 | 19,796 | -6.0% | -1,260 | 27,611 | 39.47% | 7,815 |
| په افغانی | 7,685 | 6,919 | -10.0% | -767 | 8,827 | 27.59% | 1,909 |
| په بهرنیو اسعارو | 13,372 | 12,878 | -3.7% | -494 | 18,784 | 45.86% | 5,906 |
| له ونډو (سهام) پرته په دولتي او غیر دولتي پورونو کې د پانګې اچونې پانې | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 |

**۲.۱ خالصه نړیوالې زیرمې**

خالصه نړیوالې زیرمې د ۲۰۱٦ مالي کال په لومړی ربعه کې ۳.۸۸ سلنه او ۲۵۴.۰۸ میلیون امریکایي ډالره زیات شوي دي. د ۲۰۱٦ مالي کال د لومړي ربعې لپاره د خالصه نړیوالې زیرمې هدف ٦،۵۱۵.۱۵ میلیون امریکایي ډالره تعیین شوی و، حال دا چې د خالصه نړیوالې زیرمې حقیقي شمېره ٦،۵۴۹.۵۲ میلیون امریکایي ډالره ثبت شوی چې د تعیین شوي مبلغ څخه ډېره لوړه ده.

**۵.۲ ګراف د ۲۰۱٦ مالي کال په لومړي ربعه کې د خالصه نړیوالې زیرمې حقیقي بهیر او هدف توضیح کوي.**

۵.۲ ګراف: خالصه نړیوالې زیرمې، ۲۰۱٦ مالي کال (د ۲۰۱۵ د ډیسمبر څخه د ۲۰۱٦ مارچ پورې)





سرچینه: پولي سروې، د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۳. د اسعارو د مبادلې بازار**

د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ ارزښت د همدې ربعې څخه ۱۸.۲۹ سلنه راکمه شوې چې د ۲۰۱٦ مالي کال د لومړي ربعې په پای کې افغانۍ د هر ډالر په وړاندې ٦۸.۳٦ افغانۍ مبادله کېده.

د افغانۍ د بې ارزښته کېدو لوی لامل د جاري حساب دوامداره لوړ کسر او د دې ترڅنګ نور کورني عوامل دي چې د سیاسي او امنیتي وضعیت له امله رامنځ ته شوي و. د ۲۰۱٦ مالي کال په لومړي ربعه کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې اوسط نرخ ورځنی شرحه په لاندني ګراف کې ښودل شوی دی.

٦.۲ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ، ۲۰۱٦ مالي کال (۲۰۱۵ د ډیسمبر څخه د ۲۰۱٦ مارچ پورې)




سرچینه: پولي سروې، د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۴. د ازاد بازار عملیات او د سیالیت شرایط**

**۱.۴ د اسعارو لیلام**

د ۲۰۱٦ مالي کال په لومړي ربعه کې د افغانستان بانک په ټولیزه توګه ۴۷۹.۲۴ میلیون امریکایي ډالره لیلام کړي په داسې حال کې چې ټولیزه تقاضا ٦۴۷.۷۲ میلیون امریکایي ډالره وه. په منځنۍ ډول، ۴۷ تنو داوطلبانو په هر لیلام کې ګډون کړی او ۳۵ تنو داوطلبانو ته په اوسط ډول ۱۳.۳۱ میلیون امریکایي ډالره ورکړل شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې د ۲۰۱۵ مالي کال کې ټولیزه ورکړل شوی مبلغ ۷۵۰.۲۰ میلیون امریکایي ډالره و او تقاضا ۱،۰۰۷.۱۰ میلیون امریکایي ډالرو ته رسېده.

**۲.۴ د پانګه ایزو پاڼو لیلام**


د پانګه ایزو پاڼو ټولیزه نا تصفیه شوې ونډه د ۲۰۱٦ مالي

کال د لومړي ربعې په پای کې ۳۲.۱۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۲۰۱۵ مالي کال د لومړي ربعې د ۳۴.۸۶ میلیارده افغانۍ په پرتله ۸.۵ سلنه کموالی ښکاره کوي.

همدا ډول، د ارزونې لاندې موده کې د ۷ ورځني پانګه ایزو پاڼو نا تصفیه شوې ونډې ۳۰ میلیونه افغانۍ او د ۲۸ ورځني پانګه ایزو پاڼو نا تصفیه شوی مبلغ ۵۳۰ میلیونه افغانۍ دی، په داسې حال کې چې د ۱۸۲ ورځني پاڼو نا تصفیه شوې ونډه ۶.۱۲۰ میلیارده افغانۍ او د ۳۶۴ ورځني پاڼو نا تصفیه شوې ونډه ۲۳.۹ میلیارده افغانۍ ده.

۷.۲ ګراف د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړي ربعه کې د ټولو سر رسیدونو د ټولیزه نا تصفیه شوې ونډې ویشنه ښکاره کوي.

۷.۲ ګراف: د پانګه ایزو پاڼو نا تصفیه شوې ونډه، ۲۰۱۶ مالي کال لومړۍ ربعه




سرچینه: د بازار د عملیاتو مدیریت، د افغانستان بانک

د راپور ورکولو مودې په پای کې د ۷ ورځني پانګه ایزو پاڼو د ټکټانې عیار شوی منځنی نرخ ۱.۸ سلنه دی، په داسې حال کې چې د ۲۸ ورځني پاڼو ۳.۵۳ سلنه او همدا ډول د ۱۸۲ ورځني پاڼو د ټکټانې نرخ ۵.۱۵ سلنه او د ۳۶۴ ورځني پاڼو د ټکټانې نرخ ۶.۷۳ سلنه تعیین شوی دی.

### ۳.۵ الزامي او اضافي زیرمې

سوداګریز بانکونه اړ دي چې د خپلو ټولو امانتونو ۸ سلنه د الزامي زیرمې په توګه د افغانستان بانک سره وساتي. په یوه وروستي اقدام سره د افغانستان بانک د ۲۰۱۵ کال د جون ۲۸ څخه وروسته د الزامي زیرمو لپاره د ټکټانې ورکړه درولې ده.

سوداګریزو بانکونو ته د هغوی د خپل سیالیت د سم مدیریت او د پانګه ایزو پاڼو څخه بهر د اضافه زیرمو د پانګونې لپاره د سم فرصت د برابرولو په موخه د افغانستان بانک په ۱۳۸۵ (۲۰۰۶-۲۰۰۷) کال کې د شپې دایمي آسانتیاوې Overnight Standing Facilities معرفي کړې، خو د افغانستان بانک د شپې د بیه لرونکو پاڼو آسانتیا خپرول د لنډې مودې لپاره درولې ده، خو د پولي سیاست د ابزار په توګه د شپې د بیه لرونکو پاڼو آسانتیا د ګټورتیا د ارزولو وروسته د افغانستان بانک د شپې د دایمي آسانتیاوو څخه ملاتړ کوي. د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړي ربعه کې د یاد آسانتیا لپاره د ټکټانې اداینه ۶.۴۲۶ میلیون افغانۍ ته ورسېده.

**د شپې د پور آسانتیا:** دا آسانتیا سوداګریزو بانکونو ته اجازه ورکوي، کله چې په لنډ مهاله سیالیت کې له کمښت سره مخ شي، د افغانستان بانک څخه د شپې له خوا افغانۍ پور کړي. کوم نرخ چې په بانکونو باندې د دې آسانتیا په بدل کې وضع کېږي ۳.۵ سلنه دی چې د وروستي ۲۸ ورځني پانګه ایزو پاڼو د لیلام نرخ څخه لوړ دی. دا پور اخیستنه د نا تصفیه شوي پانګه ایزو پاڼو په مرسته تضمین کېږي. د ټکټانې د نرخ د دې ډول لوړوالي اصلي لامل خپل منځي پور ورکړې لپاره د سوداګریزو بانکونو هڅول دي.

# ۳

# د انفلاسیون بهیر او لیدلوری

## ۳

# د انفلاسیون بهیر او لیدلوری

د ۲۰۱۶ کال په پیل کې نړیوال اقتصاد د انرژۍ او د کرنیزو محصولاتو د ټیټو بیو او د امریکایي ډالرو د ارزښت کموالی ترڅنګ د سوداګریزو توکو لړې بیې تجربه کړي دي. د وروستیو راپورونو له مخې، د انرژۍ بیه د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر میاشتې له کچې څخه ۲۱ سلنه راټیټه شوې ده. د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې د خامو نفتو بیه ۲۲ سلنه راکمه شوې چې د انرژۍ بیې د کموالي لامل شوی دی. د نفتو پر بیو باندې منفي اغېزې یو څه نا څه د تقاضا له امله رامنځ ته شوې، خو په عمده توګه په عراق او نایجریا هېوادونو کې د ګډوډیو له کبله د عرضې د زیانمنه کېدو له امله دا اغېزې واردې شوي دي.

د هوا د ښو شرایطو له امله کرنیزو بیو په پراخه کچه ټیټېدونکی بهیر درلوده چې عمومي شاخص (ربعه په ربعه) ۱.۴ سلنه او (کال په کال) ۹ سلنه راولویدلی دی. د کرنیزو توکو د بیو کموالی په عمده توګه د مشروباتو د بیو په شاخص (۷.۵ سلنه) او د کرنیزو خامو توکو د بیو په شاخص (۱.۸ سلنه) کې ټیټوالی ښودلی شوی دی.

په سهیلي آسیا کې انفلاسیون لوړ شوی په داسې حال کې چې د نفتو بیه ټیټه پاتې شوې ده. پاکستان کې انفلاسیون ۳.۹ سلنه دی چې د تېرې ربعې د ۳.۲ سلنې څخه لوړوالی ښکاره کوي. په همدې حال کې په سیمه کې د انفلاسیون له پلوه فشارونه د هند د انفلاسیون د ټیټې کچې په مرسته لږ څه راکمې شوې دي.

**۱. په افغانستان کې د مصرفي توکو بیې**

د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې په افغانستان کې د مصرفي توکو بیې لوړې شوې دي. عمومي انفلاسیون د ۰.۶ سلنې دیفلاسیون څخه ۳.۸ سلنې (کال په کال) انفلاسیون ته لوړ شوی دی.


د ارزونې لاندې موده کې د لوړ انفلاسیون یو دلیل په سهیلي آسیا کې د سوداګریزو توکو د بیو لوړوالی دی، خو عمده لامل یې کورني عوامل دي. د ۲۰۱۶ کال د لومړي ربعې په پای کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د ارزښت کموالی د مصرفي توکو د بیو پر شاخص باندې د فشارونو اصلي عامل پاتې شوی دی.

خو بلې خوا ته د ربعې په ربعې سنجش له مخې بیا عمومي انفلاسیون د ۲۰۱۵ کال د وروستي ربعې د ۳.۴ سلنې څخه د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې ۰.۸ سلنې ته راکم شوی دی. همدا ډول، د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص د ملي مصرفي توکو د بیو شاخص ته ورته والی درلودلی دی.

د هېواد په پلازمینه کې ټولیزه انفلاسیون د تېر کال د ورته ربعې د منفي ۱.۸ سلنې څخه ۴.۴ سلنې ته لوړ شوی، په داسې حال کې چې د ربعې په ربعې اړکل پر بنسټ یې کموالی موندلی دی (د ۳.۶ سلنې څخه ۰.۰ سلنې ته).


۱.۳ ګراف: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص

(کال په کال)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۲.۳ ګراف: اصلي انفلاسیون (۳۰ سلنه د اوسط پیدا کولو میتود )




**۱.۳ د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو د شاخص بدلونونه**

۱.۱.۱ کلني بدلونونه

د انفلاسیون د کال په کال اټکل د بیو په کچه کې د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې عمومي انفلاسیون د کال په کال سنجش له مخې ۳.۸ سلنه انفلاسیوني نرخ ته لوړ شوی چې د تېر کال په همدې ربعه کې ۰.۶ سلنه دیفلاسیوني نرخ ثبت شوی و.

د راپور ورکولو په موده کې د مصرفي توکو د بیو دواړه خوراکي او غیر خوراکي برخو د انفلاسیون لوړ نرخ ښودلی دی. د خوراکي توکو په ډېرو مهمو فرعي برخو کې د انفلاسیون د زیاتوالي په پام کې نیولو سره، دا شاخص ۴.۰ سلنې ته لوړ شوی چې د تېر کال د ورته ربعې د ۰.۶ سلنې دیفلاسیوني نرخ څخه زیات لوړوالی په ګوته کوي. د غیر خوراکي توکو په کټګورۍ کې انفلاسیون د ۰.۵ سلنې (کال په کال) دیفلاسیوني نرخ څخه ۳.۷ سلنې ته لوړ شوی دی.

د خوراکي توکو په فرعي شاخص کې زیاتېدونکي فشارونه د ډوډۍ او حبوباتو، غوښې، شیدې، پنیرو او هګیو، خوراکي غوړیو او شحمیاتو او سبزیجاتو د لوړو بیو له امله رامنځ ته شوي دي. په همدې حال کې تر ټولو زیات لوړوالی د سبزیجاتو د بیو په شاخص کې راغلی چې د منفي ۱۱.۷ سلنې څخه ۱.۹ سلنې ته رسېدلی دی.

د غیر خوراکي توکو په برخه کې، د کور جوړونې، بریښنا، اوبو او ګازو، فرنیچر او کورني توکو، روغتیا او ټرانسپورټ په بیو کې زیاتوالي د انفلاسیون د لوړوالي ستر لامل ګڼل کېږي. د ټرانسپورټ بیه د منفي ۶.۹ سلنې څخه ۲.۰ سلنې ته لوړه شوې چې د غیر خوراکي توکو د فرعي شاخص تر ټولو زیات کلنی لوړوالی ښکاره کوي.

د انفلاسیون اصلي محاسبه هم د تېر کال د لومړي ربعې په پرتله لوړ بهیر ښکاره کړی دی. د اوسط پیدا کولو میتود چې د اصلي انفلاسیون د محاسبې تر ټولو عامه طریقه ده، د ۰.۹ سلنې (کال په کال) څخه ۵.۱ سلنې ته لوړ شوی دی. سربېره پر دې، د مصرفي توکو د بیو شاخص د ډوډۍ او حبوباتو، د خوراکي غوړیو او شحمیاتو او ټرانسپورټ پرته، د ۰.۴ سلنې (کال په کال) دیفلاسیوني نرخ څخه ۳.۸ سلنې انفلاسیون ته راګرځېدلی دی.

**۱.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص ویشنه**

د کال په کال بدلونونو سلنه

د ۲۰۱۱ مارچ = ۱۰۰

| | وزن | 1393 | | | | 1394 | | | | 1395 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | لومړی ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړی ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړی ربعه |
| **عمومي شاخص** | **100.0** | **5.6** | **5.6** | **4.2** | **1.3** | **-0.6** | **-2.8** | **-1.9** | **0.1** | **3.8** |
| **خوراکي توکي او څښاک** | **52.0** | **10.0** | **9.7** | **6.8** | **2.9** | **-0.6** | **-3.3** | **-2.6** | **-0.3** | **4.0** |
| ډوډۍ او حبوبات | 17.7 | 9.5 | 11.4 | 11.0 | 8.0 | 2.1 | -3.4 | -2.3 | 0.5 | 5.0 |
| غوښه | 7.2 | 2.6 | 3.4 | 3.7 | 3.4 | 2.4 | -0.2 | -1.5 | 0.8 | 3.2 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 4.8 | 6.5 | 6.1 | 2.1 | 3.4 | 1.4 | 1.0 | 1.5 | 1.3 | 2.4 |
| خوراکي غوړي او شحمیات | 4.0 | 1.8 | 1.7 | 0.9 | -1.7 | -6.2 | -7.2 | -6.5 | -6.6 | -1.9 |
| تازه او وچه میوه | 4.8 | 8.5 | 9.9 | 9.2 | 11.5 | 6.6 | 7.9 | 2.0 | 0.5 | 3.6 |
| سبزیجات | 7.9 | 30.3 | 24.3 | 7.1 | -9.6 | -11.7 | -15.9 | -12.4 | -6.3 | 1.9 |
| بوره او خواږه توکي | 2.9 | 2.5 | -1.6 | -0.2 | -1.0 | -1.1 | 0.5 | 0.4 | 6.0 | 11.1 |
| آچار، ترشیات... | 0.9 | 10.5 | 9.4 | 12.0 | 5.9 | 1.0 | -1.0 | 0.3 | 6.6 | 13.3 |
| غیر الکولي مشروبات | 1.8 | 7.4 | 3.7 | 4.0 | 2.1 | 1.3 | 3.1 | 4.6 | 5.3 | 7.9 |
| **غیر خوراکي توکي** | **48.0** | **1.1** | **1.4** | **1.4** | **-0.5** | **-0.5** | **-2.2** | **-1.2** | **0.5** | **3.7** |
| تمباکو | 0.4 | 8.4 | 3.0 | 0.6 | 6.7 | 7.2 | 12.8 | 25.0 | 22.4 | 21.8 |
| پوښاک | 7.0 | 8.3 | 8.1 | 6.9 | 4.2 | 2.9 | 2.0 | 6.6 | 8.6 | 9.9 |
| کور جوړونه | 20.7 | -8.5 | -9.1 | -8.8 | -9.7 | -4.6 | -7.0 | -7.4 | -6.6 | -2.7 |
| فرنیچر او کورني توکي | 7.0 | 8.5 | 10.4 | 10.3 | 8.4 | 4.9 | 2.1 | 3.3 | 5.7 | 9.7 |
| روغتیا | 3.3 | 8.8 | 9.0 | 10.3 | 8.5 | 7.7 | 7.4 | 6.9 | 9.4 | 9.4 |
| ټرانسپورټ | 4.7 | 16.6 | 20.1 | 19.5 | 11.3 | -6.9 | -10.0 | -7.8 | -3.4 | 2.0 |
| اړیکې | 1.1 | -1.5 | -1.4 | -2.0 | -3.4 | -4.7 | -3.3 | -2.2 | -1.3 | -0.1 |
| زده کړه | 0.7 | 1.9 | 5.0 | 4.0 | 2.8 | 2.0 | -2.7 | -3.7 | -5.1 | -7.6 |
| معلومات او کلتور | 0.1 | 6.5 | 5.4 | 7.1 | 7.0 | 1.2 | 3.8 | 5.2 | 6.3 | 6.5 |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | 1.0 | 2.6 | 2.4 | 4.6 | 3.2 | 2.2 | 4.2 | -0.8 | -0.3 | 0.7 |
| متفرقه | 1.8 | 7.6 | 10.2 | 8.2 | 7.6 | 7.3 | 7.2 | 10.6 | 9.5 | 9.1 |
| **اصلي انفلاسیون (۳۰ سلنه د اوسط پیدا کولو میتود)** | | **6.4** | **6.3** | **5.6** | **4.3** | **0.9** | **0.5** | **0.5** | **2.2** | **5.1** |
| **اصلي انفلاسیون (عمومي پرته له ډوډۍ او حبوباتو، خوراکي غوړیو او شحمیاتو او تمباکو څخه)** | | **4.3** | **3.6** | **1.7** | **-0.8** | **-0.4** | **-1.9** | **-1.2** | **-1.0** | **3.8** |

**سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه**


### ۲.۱.۱ د ملي مصرفي توکو د بیو د شاخص درې میاشتني بدلونونه

د انفلاسیون لنډمهاله محاسبه د کلني محاسبې په پرتله بېل ډول بهیر ښکاره کوي. ملي انفلاسیون د ربعې په ربعې اټکل له مخې د تېرې ربعې د ۳.۴ سلنې څخه ۰.۸ سلنې ته راکم شوی دی. دا کموالی د مصرفي توکو د بیو د شاخص د دواړه خوراکي او غیر خوراکي توکو د ټیټ انفلاسیون سره جوړښت لري.

د خوراکي توکو شاخص د ۴.۵ سلنې څخه ۱.٦ سلنې ته راولویدلی دی. د ډوډۍ او حبوباتو او د سبزیجاتو بیې زیاتې راکمې شوې چې د خوراکي توکو په فرعي شاخص باندې پام وړ منفي اغېزې پریږدي. په داسې حال کې چې په دې کټګورۍ کې تر ټولو زیات درې میاشتنی کموالی په سبزیجاتو کې لیدل شوی چې بیې یې د تېرې ربعې د ۱۷.۴ سلنې په پرتله د ۲۰۱٦ کال په لومړي ربعه کې ۵.۸ سلنه کم شوي دي.

د غیر خوراکي توکو انفلاسیون هم د ۲.۲ سلنه انفلاسیوني نرخ څخه ۰.۲ سلنه دیفلاسیوني نرخ ته راولویدلی دی. د دیفلاسیون له پلوه فشارونه د پوښاک، کور جوړونې، بریښنا، اوبو او ګازو او د ټرانسپورټ د ټیټو بیو له امله رامنځ ته شوي، چې تر ټولو زیات بدلون د ټرانسپورټ په برخه کې راغلی چې د ۱.۱ سلنې په پرتله منفي ۳.٦ سلنې ته راکم شوی دی.

۳.۳ ګراف: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص (ربعه په ربعه)




**۲.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو د شاخص ویشنه**

د ربعې په ربعې بدلونونو سلنه

د ۲۰۱۱ مارچ = ۱۰۰

| | ۱۳۹۳ مالي کال | | | ۱۳۹۴ مالي کال | | | | ۱۳۹۵ مالي کال |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړی ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | لومړی ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړی ربعه |
| **عمومي شاخص** | **-1.0** | **1.2** | **-0.2** | **1.3** | **-2.9** | **-1.1** | **0.8** | **3.4** |
| **خوراکي توکي او مشروبات** | **0.8** | **1.0** | **-1.0** | **2.0** | **-2.6** | **-1.7** | **-0.3** | **4.5** |
| ډوډۍ او حبوبات | 0.6 | 4.1 | 2.7 | 0.4 | -5.0 | -1.4 | 4.0 | 3.2 |
| غوښه | 0.3 | 0.7 | 2.1 | 0.3 | -0.7 | -1.9 | 0.8 | 2.7 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 1.9 | -1.8 | 0.8 | 2.5 | -0.1 | -2.1 | 1.2 | 2.4 |
| خوراکي غوړي او شحمیات | -0.9 | -0.2 | -0.1 | -0.5 | -5.4 | -1.3 | 0.6 | -0.5 |
| تازه او وچه میوه | 6.5 | 3.4 | -1.7 | 3.1 | 1.8 | 4.6 | -7.1 | 1.5 |
| سبزیجات | -0.3 | -3.0 | -14.7 | 9.7 | -2.7 | -7.6 | -11.2 | 17.4 |
| بوره او خواږه توکي | -2.1 | -2.8 | 3.3 | 0.7 | -2.3 | -1.2 | 3.3 | 6.3 |
| آچار، ترشیات... | 3.3 | 2.7 | 0.3 | -0.5 | -1.5 | 0.7 | 1.7 | 5.7 |
| غیر الکولي مشروبات | 0.5 | -0.6 | 1.9 | 0.3 | -0.3 | 1.1 | 3.4 | 1.0 |
| **غیر خوراکي توکي** | **-2.9** | **1.4** | **0.6** | **0.5** | **-3.2** | **-0.3** | **1.9** | **2.2** |
| تمباکو | -0.2 | 2.2 | -2.8 | 7.6 | 0.3 | 7.5 | 7.8 | 5.4 |
| پوښاک | 1.2 | 1.9 | -0.2 | 1.3 | -0.1 | 1.1 | 4.3 | 3.2 |
| کور جوړونه | -10.3 | -0.3 | -0.1 | 1.1 | -5.7 | -2.8 | 0.0 | 1.9 |
| فرنیچر او کورني توکي | 1.8 | 4.6 | 1.1 | 0.7 | -1.5 | 1.7 | 2.4 | 3.0 |
| روغتیا | 4.2 | 2.0 | 2.5 | -0.4 | 3.4 | 1.8 | 2.0 | 1.9 |
| ټرانسپورټ | 9.1 | 3.2 | 2.4 | -3.5 | -8.7 | -0.2 | 4.9 | 1.1 |
| اړیکې | -0.1 | -1.3 | -1.3 | -0.7 | -1.4 | 0.1 | -0.3 | 0.3 |
| زده کړه | 1.8 | 2.4 | -0.2 | -1.2 | 1.0 | -2.2 | -1.3 | -2.6 |
| معلومات او کلتور | 5.5 | -1.0 | 1.6 | 0.8 | -0.2 | 1.5 | 2.9 | 1.9 |
| ریستورانتونه او هوټلونه | 0.9 | 0.4 | 3.3 | -1.5 | 0.0 | 2.3 | -1.6 | -1.0 |
| متفرقه | 1.2 | 2.8 | 0.1 | 3.3 | 1.0 | 2.6 | 3.3 | 2.2 |

**سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه**

**۲. د کابل د مصرفي توکو د بيو په شاخص کې بدلونونه**

**۱.۲.۱ کلني بدلونونه**

د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې د کابل عمومي انفلاسيون لوړ شوی (کال په کال) چې د دوهمې پرله پسې ربعې لپاره لوړوالی ښکاره کوي.


د کابل د لوړ انفلاسيون عمده لامل د شاخص په دواړه خوراکي او غير خوراکي کټګوريو کې لوړ انفلاسيون ښودل شوی دی. د عمومي مصرفي توکو د بيو شاخص د تېر کال د لومړي ربعې د ۱.۸ سلنې ديفلاسيون څخه ۴.۴ سلنې انفلاسيون ته راګرځيدلی دی.

خوراکي توکي چې د ټولو مصرفي توکو د بيو د شاخص شاوخوا ۵۲ سلنه جوړوي، د يوه کال په موده کې لوړ انفلاسيون ښکاره کړی دی. په دې کټګورۍ کې انفلاسيوني اغېزې د ډوډۍ او حبوباتو، غوښې، شيدې، پنيرو او هګيو، خوراکي غوړيو او شحمياتو، تازه او وچې مېوې او د پورې او خواږه توکو د لوړو بيو له امله رامنځ ته شوي دي. په پايله کې د خوراکي توکو ۱.۰ سلنه ديفلاسيون څخه ۴.۸ سلنې انفلاسيون ته لوړ شوی دی.

غير خوراکي توکي چې د ټول شاخص شاوخوا ۴۸ سلنه جوړوي، ۴.۲ سلنې ته لوړ شوی دی، په داسې حال کې چې د تېر کال په ورته ربعه کې منفي ۲.۳ سلنه محاسبه شوی دی. دا لوړوالی په عمده توګه د پوښاک، کور جوړونې، بريښنا، اوبو او ګازو، فرنيچر او کورني توکو او ټرانسپورټ د لوړو بيو له امله رامنځ ته شوی دی. په دې برخه کې تر ټولو زيات لوړوالی د ټرانسپورټ په برخه کې راغلی چې د تېر کال د منفي ۱۴.۷ سلنې په پرتله ۸.۲ سلنه لوړ شوی دی.

انفلاسيون د اصلي محاسبې له مخې زياتوالی موندلی دی. د اوسط پيدا کولو ميتود ۳۰ سلنه د ۲۰۱۶ کال په مارچ مياشتې کې ۸.۴ سلنه انفلاسيون ښکاره کوي چې د ۲۰۱۵ کال د لومړي ربعې د ۰.۷ سلنې څخه د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي. همدا ډول، د مصرفي توکو د بيو شاخص د ډوډۍ او حبوباتو، خوراکي غوړيو او شحمياتو او ټرانسپورټ پرته، د ۱.۰ سلنې (کال په کال) ديفلاسيون څخه ۶.۲ سلنې انفلاسيون ته لوړ شوی دی.

۴.۳ ګراف: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بيو شاخص (کال په کال)




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۳.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیو د شاخص ویشنه**

د کال په کال بدلونونو سلنه

د ۲۰۱۱ مارچ = ۱۰۰

| | وزن | 1393 | | | | 1394 | | | | 1395 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | لومړی ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړی ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړی ربعه |
| **عمومي شاخص** | **100.0** | **1.8** | **1.2** | **1.2** | **-1.1** | **-1.8** | -3.6 | **-2.5** | **-0.6** | **4.4** |
| **خوراکي توکي او څښاک** | **52.0** | **7.9** | **5.5** | **5.4** | **1.8** | **-1.0** | -1.3 | **-2.1** | **0.0** | **4.8** |
| ډوډۍ او حبوبات | 17.7 | 7.7 | 4.8 | 6.6 | 3.0 | -1.9 | -2.9 | -3.2 | -0.7 | 1.1 |
| غوښه | 7.2 | -1.4 | -1.4 | 3.8 | 2.6 | 0.5 | 1.1 | 0.7 | 4.3 | 8.7 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 4.8 | 6.1 | 9.9 | 8.7 | 5.9 | 2.7 | 6.1 | 8.5 | 7.1 | 8.1 |
| خوراکي غوړي او شحمیات | 4.0 | -0.9 | -3.1 | -5.1 | -5.5 | -12.6 | -7.7 | -7.5 | -5.5 | -3.1 |
| تازه او وچه میوه | 4.8 | 6.5 | 8.8 | 7.4 | 12.9 | 5.1 | 8.3 | 3.0 | 3.1 | 9.7 |
| سبزیجات | 7.9 | 24.7 | 15.8 | 8.9 | -5.6 | -2.3 | -10.2 | -12.6 | -11.5 | -3.0 |
| بوره او خواږه توکي | 2.9 | -0.5 | -6.9 | -3.5 | -5.1 | -2.8 | 1.4 | 2.6 | 13.9 | 26.9 |
| آچار، ترشیات... | 0.9 | 8.3 | 7.0 | 9.2 | 7.2 | 1.4 | 3.6 | 9.3 | 19.8 | 30.0 |
| غیر الکولي مشروبات | 1.8 | 7.8 | 2.1 | 2.6 | 3.2 | -0.8 | 3.0 | 5.3 | 9.5 | 11.6 |
| **غیر خوراکي توکي** | **48.0** | **-2.4** | **-1.7** | **-1.6** | **-3.1** | **-2.3** | **-5.2** | **-2.8** | **-0.9** | **4.2** |
| تمباکو | 0.4 | 11.2 | 13.3 | 11.5 | 15.5 | 12.9 | 9.1 | 22.6 | 20.1 | 20.8 |
| پوښاک | 7.0 | 7.8 | 11.5 | 11.3 | 10.3 | 5.6 | 0.8 | 9.8 | 13.8 | 17.8 |
| کور جوړونه، بریښنا، اوبه او ګاز | 20.7 | -12.2 | -13.2 | -13.1 | -13.4 | -5.5 | -9.7 | -10.0 | -9.6 | -4.7 |
| فرنیچر او کورني توکي | 7.0 | 6.2 | 13.4 | 13.2 | 12.5 | 7.2 | 3.9 | 8.5 | 14.0 | 19.8 |
| روغتیا | 3.3 | 7.8 | 7.3 | 8.7 | 4.1 | 4.1 | 3.5 | 0.2 | 0.3 | 1.7 |
| ټرانسپورټ | 4.7 | 33.3 | 33.2 | 32.1 | 19.4 | -14.7 | -15.4 | -7.4 | -3.4 | 8.2 |
| اړیکې | 1.1 | -0.8 | -2.2 | -4.0 | -5.0 | -5.7 | -3.6 | -1.6 | -0.2 | 0.3 |
| زده کړه | 0.7 | -0.1 | 2.8 | 1.9 | 2.1 | 1.6 | -3.8 | -5.8 | -7.3 | -9.7 |
| معلومات او کلتور | 0.1 | 14.0 | 14.6 | 19.1 | 18.3 | 1.8 | 5.6 | 6.8 | 9.8 | 11.7 |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | 1.0 | 1.5 | 2.3 | 5.2 | 3.1 | 1.7 | 5.5 | -0.6 | 0.0 | 2.2 |
| متفرقه | 1.8 | 4.3 | 7.9 | 3.8 | 5.0 | 4.5 | 8.3 | 17.8 | 17.9 | 19.1 |
| اصلي انفلاسیون (۲۸ سلنه د اوسط پیدا کولو میتود) | | **5.3** | **5.7** | **6.2** | **4.4** | **0.7** | **1.2** | **1.9** | **4.7** | **8.4** |
| **اصلي انفلاسیون (عمومي پرته له ډوډۍ او حبوباتو، خوراکي غوړیو او شحمیاتو او تمباکو څخه)** | | **-1.3** | **-1.3** | **-3.8** | **-3.1** | **-1.0** | **-2.6** | **-1.7** | **-1.4** | **6.2** |

**سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه**


### ۲.۲.۱ د کابل د مصرفي توکو د بيو د شاخص درې مياشتنی بدلونونه

د ۲۰۱٦ کال په لومړي ربعه کې د کابل انفلاسيون د ربعې په ربعې سنجش له مخې ټيټېدونکی بهير درلودلی چې د مصرفي توکو د بيو د شاخص د خوراکي او غير خوراکي برخو تر ټولو ټيټ انفلاسيون ښکاره کوي. د ۲۰۱٦ کال په مارچ کې عمومي انفلاسيون د ۲۰۱۵ کال د ډيسمبر مياشتې د ۳.٦ سلنې څخه ۰.۰ سلنې ته راکم شوی دی.

د خوراکي توکو د فرعي شاخص ټيټېدونکی بهير درلودلی، په داسې حال کې چې په دې کټګورۍ کې د انفلاسيون نرخ د تېرې ربعې د ۵.۵ سلنې په پرتله ۰.۷ سلنه راکم شوی دی. په دې برخه کې د ډوډۍ او حبوباتو، غوښې، شيدې، پنيرو او هګيو، غوړيو او شحمياتو، سبزيجاتو او بورې او خوږو توکو بيې راټيټې شوي چې د خوراکي توکو د انفلاسيون د کموالي لامل شوي دي. همدا ډول، د سبزيجاتو بيې تر ټولو زيات کموالی ښکاره کړی چې د ۱۹.۸ سلنې څخه ۵.۹ سلنې ته راکم شوی دی. د بلې خوا د تازه او وچې مېوې بيې د ۲.۴ سلنې په پرتله ۸.۹ سلنه زيات شوي دي.

د مصرفي توکو د بيې د شاخص غير خوراکي کټګورۍ هم د ۲۰۱٦ کال په لومړي ربعه کې د انفلاسيون په کموالي کې مرسته کړې ده. د دې برخې انفلاسيون د تېر کال د ۲.۳ سلنې څخه منفي ۰.۴ سلنې ته راکم شوی دی. د غير خوراکي توکو د انفلاسيون د ټيټوالي عمده عوامل د پوښاک، کور جوړونې، برېښنا، اوبو او ګازو، اثاثيې او کورني توکي او ټرانسپورټ د بيو کموالی ښودل شوی چې تر ټولو زيات ټيټوالی د پوښاک په برخه کې راغلی دی. د دې برخې بيې د ٦.۴ سلنې (ربعه په ربعه) څخه ۱.۲ سلنې ته راکمې شوي دي. د دې په خلاف، د روغتيايي چارو لګښت د ۲۰۱۵ کال د ډيسمبر د منفي ۲.۰ سلنې په پرتله د ۲۰۱٦ کال په مې مياشتې کې ۳.۱ سلنه لوړه شوې ده.

**۵.۳ ګراف: د کابل عمومي مصرفي توکو د بيو شاخص (ربعه په ربعه)**




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۴.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیو د شاخص ربعه په ربعه ویشنه**

د ربعې په ربعې بدلونونو سلنیز

د ۲۰۰۱ مارچ = ۱۰۰

| | 1393 | | | | 1394 | | | | 1395 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه |
| **عمومي شاخص** | -3.8 | 1.0 | 0.3 | 1.6 | -4.7 | -0.9 | 1.6 | 3.6 | 0.0 |
| **خوراکي توکي او مشروبات** | -1.2 | -0.2 | 0.0 | 3.3 | -3.9 | -0.5 | -0.8 | 5.5 | 0.7 |
| ډوډۍ او حبوبات | -2.8 | 2.0 | 5.1 | -1.1 | -7.4 | 1.0 | 4.8 | 1.4 | -5.8 |
| غوښه | -0.5 | -2.5 | 4.4 | 1.3 | -2.6 | -1.9 | 3.9 | 4.9 | 1.5 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 2.0 | -1.5 | 2.5 | 3.0 | -1.1 | 1.7 | 4.7 | 1.6 | -0.1 |
| غوړي او شحمیات | -2.6 | -1.6 | -0.8 | -0.6 | -9.9 | 3.9 | -0.5 | 1.5 | -7.7 |
| تازه او وچه میوه | 9.9 | 5.1 | -4.5 | 2.3 | 2.3 | 8.3 | -9.2 | 2.4 | 8.9 |
| سبزیجات | -6.6 | -3.9 | -11.0 | 18.2 | -3.4 | -11.7 | -13.4 | 19.8 | 5.9 |
| بوره او خواږه توکي | -5.2 | -5.6 | 6.0 | 0.0 | -3.0 | -1.5 | 7.3 | 11.1 | 8.1 |
| آچار، ترشي... | 3.1 | 0.9 | 1.8 | 1.1 | -2.4 | 3.2 | 7.4 | 10.8 | 5.8 |
| غیر الکولي مشروبات | 2.0 | -2.6 | 2.3 | 1.5 | -2.0 | 1.2 | 4.6 | 5.5 | -0.1 |
| **غیر خوراکي توکي** | -5.6 | 1.9 | 0.5 | 0.3 | -5.3 | -1.1 | 3.5 | 2.3 | -0.4 |
| تمباکو | 1.9 | 7.4 | 0.5 | 5.0 | -0.4 | 3.8 | 12.9 | 2.8 | 0.2 |
| پوښاک | 2.2 | 5.2 | -0.1 | 2.6 | -2.2 | 0.5 | 8.8 | 6.4 | 1.2 |
| کور جوړونه | -14.0 | 0.1 | -0.1 | 0.6 | -6.9 | -4.3 | 0.5 | 1.0 | -1.9 |
| اثاثیه او کورني وسایل | 1.4 | 8.2 | 1.3 | 1.3 | -3.3 | 4.8 | 5.8 | 6.4 | 1.6 |
| روغتیا | 1.6 | 0.8 | 3.7 | -2.0 | 1.7 | 0.2 | 0.4 | -2.0 | 3.1 |
| ټرانسپورټ | 21.9 | 0.5 | 1.7 | -4.1 | -12.9 | -0.4 | 11.4 | 0.0 | -2.4 |
| اړیکې | -0.1 | -2.1 | -1.9 | -1.0 | -0.8 | 0.1 | 0.1 | 0.4 | -0.3 |
| زده کړه | 1.0 | 2.0 | 0.1 | -1.1 | 0.5 | -3.3 | -1.9 | -2.8 | -2.0 |
| معلومات او کلتور | 14.0 | -0.3 | 3.6 | 0.5 | -1.9 | 3.4 | 4.8 | 3.2 | -0.2 |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | 1.5 | 0.8 | 2.9 | -2.0 | 0.0 | 4.6 | -3.1 | -1.3 | 2.2 |
| متفرقه | 0.4 | 3.2 | -1.9 | 3.3 | -0.1 | 7.0 | 6.8 | 3.4 | 0.9 |

**سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه**

### ۲. د انفلاسیون لنډ مهاله لیدلوری

د انفلاسیون لنډ مهاله لیدلوری لوړېدونکی بهیر لري. مرکزي بانك د ۲۰۱۶ کال د جون میاشتې لپاره د انفلاسیون نرخ شاوخوا ۴ سلنه اټکلوي، خو سره له دې هم دا نرخ د یو شمېر عواملو تر اغېزې لاندې دی.

لومړی دا چې د نفتو د بیې د راتلونکي په اړه مثبتې هیلې شتون لري. د OPEC سازمان د وړاندې وینو پر بنسټ، د ۲۰۱۶ کال په دوېمه ربعه کې د نفتو لپاره تولیزه تقاضا زیاتیږي، په داسې حال کې چې په دې موده کې تولیزه عرضه راکمیږي. د نفتو د بیو نړیواله زیاتوالی به نه یوازې په افغانستان کې د وارداتو بیه لوړه کړي، بلکې د کورني تولیداتو بیه به هم زیاته کړي. دوېم دا چې د مبادلې د تیټ نرخ له امله به په افغانستان کې انفلاسیون تر شدیدو اغېزو لاندې راشي. تمه کېده چې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ ارزښت لوړ نه شي، له همدې امله د انفلاسیون کچه په دوامداره توګه لوړه پاتې ده.

### ۱.۳ خطرونه

په افغانستان کې د انفلاسیون په اړه وړاندوینه یو شمېر منځنیو او اوږد مهاله خطرونو پورې اړه لري. تر ټولو مهم یې د اقتصادي ودې په وړاندې خطر دی. که څه هم د کورني ناخالصه تولیداتو وده د لوړوالي په لوري روانه ده، خو د امنیتي وضعیت په اړه لا هم اندېښنې شتون لري چې د کورني لګښت په اړه منفي لیدلوری وړاندې کوي. همدا ډول، کېدای شي د ګاونډیو هېوادونو د انفلاسیون نرخ په هېواد کې منفي ټکانونه وارد کړي. د دې ترڅنګ، د سیمې د انفلاسیون په نرخ کې دوامداره کموالی د هېواد پر ملي انفلاسیون باندې خپله اغېزه پرېږدي.

# ۴

# د بهرني سکتور بدلونونه

# ۴

# د بهرني سکتور بدلونونه

دا څپرکی د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعې کې د افغانستان د اقتصاد د بهرني سکتور د کړنو په اړه یو لنډ تحلیل وړاندې کوي. د دې ترڅنګ، دا څپرکی په بهرني سکتور کې لوی بدلونونه توضیح او د تېرې ربعې او د تېر کال د ورته ربعې بدلونونه سره پرتله کوي.

**۱.۴ د ادایینو بیلانس**

**۱.۱.۴ د جاري حساب بیلانس**

د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې د هېواد د جاري حساب کسر د تېر کال د ورته ربعې په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي چې د ۴.۱ ګراف کې ښودل شوی دی.

د دې زیاتوالي تر شا لوی لاملونه د خدمتونو په سکتور او عایداتي حساب کې د بهیدنو کموالی او د دې ترڅنګ د کورني ارسالي وجوه په شان داخلي لېږدونو کې کموالی دي.

د سوداګرۍ کسر (د توکو سوداګري) د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې ۱،۴۸۲.۵۱ میلیون امریکایي ډالرو ته د ۱ سلنې په اندازه زیاتوالی موندلی، په داسې حال کې چې د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړي ربعه کې ۱،۵۰۰.۵۱ میلیون امریکایي ډالرو و.


همدا ډول، د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې د خدمتونو د حساب کسر په لویه اندازه ۸۷ سلنه زیاتوالی موندلی چې ۱۹۱.۴۲ میلیون امریکایي ډالرو ته رسېږي، په داسې حال کې چې د تېر کال په ورته ربعه کې ۱۰۲.۸۷ میلیون امریکایي ډالرو ته رسېده.

دې ته ورته، عایداتي حساب هم د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۷۲.۷۱ میلیون امریکایي ډالرو د ډېربښت څخه د ارزونې لاندې مودې کې ۴.۵۵ میلیون امریکایي ډالرو کسر ته راکم شوی دی.

همدا رنګه، د جاري حساب د انتقالاتو ډېربښت چې په لویه اندازه د مرستو او له بهرنیو هېوادونو څخه د کارګرو د ارسالي وجوه په مرسته جوړېږي د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې ۳۱ سلنه راکم شوی چې ۴۷۹.۴۲ میلیون امریکایي ډالرو ته رسېږي، په داسې حال کې چې د ۱۳۹۴ مالي کال په ورته ربعه کې ۶۹۱.۱۶ میلیون امریکایي ډالرو ته رسېده (۱.۴ جدول او ۱.۴ ګراف).

۱.۴ ګراف: د جاري حساب د ادایینو بیلانس

(په میلیون امریکایي ډالر)





سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۲.۱.۴ پانګه ایز حسابونه**

د ادایینو د بیلانس پانګه ایز حساب د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۴۴ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي چې اصلي عامل یې لږې داخلي پانګه ایزې لېږدونې ښودل شوي دي (۱.۴ جدول، ۲.۴ ګراف). د پانګه ایز حساب خالصه داخلي بهیدنې د تېر مالي کال د لومړي ربعې د ۲۱۲.۷۵ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۱۱۸.۱۴ میلیون امریکایي

ډالرو ته راکم شوی دی. دا بدلون په عمده توګه د حکومت، شرکتونو او کورنیو له لوري د خالصه پانګه ایزو انتقالاتو د رسید له امله رامنځ ته شوی دی چې د تېرې ربعې او د تېر کال د لومړي ربعې د ۲۱۹.۳۷ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۱۲۱.۰۵ میلیون امریکایي ډالرو ته راکم شوی دی.

۲.۴ ګراف: د پانګې ایز حساب





**سرچینه:** د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۳.۱.۴ مالي حساب**

د اداینو د بیلانس مالي حساب د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې د ۱۷۵.۷۶ میلیون امریکایي ډالرو په ارزښت خالصه داخلي بهیدنه درلودلې ده چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۹۸.۳۹ میلیون امریکایي ډالرو په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي (۲.۴ جدول، ۳.۴ ګراف). نورې شننې ښیي چې په بهر کې د هېواد ټولیزه مالي شتمنی د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې ۱۰۷.۶۵ میلیون امریکایي ډالرو ته لوړه شوې چې دا نرخ د تېر کال په ورته ربعه کې ۳۹.۳۳ میلیون امریکایي ډالره ثبت شوی دی.

همدا ډول، ټولیزه مالي پوراینې د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې ۱۲.۴۲ میلیون امریکایي ډالرو ته راکم شوې، په داسې حال کې چې د تېر کال په ورته ربعه کې منفي ۱۰.۱۳ میلیون امریکایي ډالره و. د دې بدلون ستر عامل د نا امنۍ له کبله لږ مالي داخلي بهیدنې ښودل شوي چې دواړه، بهرنۍ مستقیمې پانګونې او د پورټفولیو پانګونې یې زیانمنه کړې دي.

۴.۳ ګراف: مالي حساب





**سرچینه:** د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۴.۱.۴ بهرني مستقیمې پانګونې او د پورټفولیو داخلي بهیدنې**

د شته معلوماتو له مخې، د پورټفولیو پانګونې زیاتوالی ثبت کړی حال دا چې د بهرني مستقیمې پانګونې اړوند داخلي بهیدنې د ارزونې لاندې موده کې ثابته (۱۷.۴۷ میلیون امریکایي ډالره) پاتې شوې دې. د پورټفولیو د پانګونې داخلي بهیدنې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۱۴.۸۲ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۱۸.۴۷ میلیون امریکایي ډالرو ته لوړې شوې دي چې ۱.۴ جدول او ۴.۴ ګراف کې ښودل شوي دي. د پورټفولیو په پانګونې کې دا زیاتوالی د ارزونې لاندې مودې کې د هېواد د زیاتېدونکي اقتصادي ډاډمنتیا پورې اړه لري.

۴.۴ ګراف: بهرنی مستقیمه پانګونه او د پورټفولیو داخلي بهیدنې




**سرچینه:** د احصائیې مرکزي اداره/د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۲.۴ د توکو سوداګري

د ربعې په ربعې پرتلې له مخې، شته شمېرې ښيي چې د افغانستان د سوداګرۍ بیلانس د توکو د صادراتو د معتدله ودې او د توکو د وارداتو د لږ څه ودې وروسته د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې وده موندلې ده.

د صادراتو څخه عواید ۱۳ سلنه زیات شوي چې د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې ۱۳۲.۸۳ میلیون امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۱۱۷.۲۴ میلیون امریکایي ډالرو څخه لوړوالی ښکاره کوي چې لوی لامل یې د تازه او وچې مېوې او د طبي بذرونو په شان د خوراکي توکو د بیو لوړوالی دی.

همدا رنګه د ټولیزه وارداتو لګښتونه ۹ سلنه راکم شوي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۱،۸۲۸.۱۶ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۱،۶۵۶.۲۱ میلیون امریکایي ډالرو ته راټیټ شوي دی. د دې بدلون عمده عامل د نفتو او روغنیاتو، صنعتي محصلاتو او د مصرفي توکو لږ واردات ویل شوي دي.

د وارداتو د کمرنګه کېدو او د صادراتو د ودې سره د سوداګرۍ کسر د تېر کال د لومړي ربعې د ۱،۷۱۰.۹۲ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۱،۵۲۳.۳۸ میلیون امریکایي ډالرو ته راټیټ شوی چې نږدې ۱۱ سلنه کموالی ښکاره کوي.

۵.۴ ګراف: د سوداګرۍ کړنه او د سوداګرۍ بیلانس





سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۱.۴ جدول: د سوداګریزو توکو ویشنه (په میلیون امریکایي ډالرو)

| | تولیز ۱۳۹۰ | | سهم (٪) | | تولیز۱۳۹۱ | | ونډه (٪) | | تولیز۱۳۹۲ | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | تولیز ۱۳۹۰ | ونډه (٪) | تولیز ۱۳۹۱ | ونډه (٪) | تولیز ۱۳۹۲ | ونډه (٪) | تولیز ۱۳۹۳ | ونډه (٪) | تولیز ۱۳۹۴ | ونډه (٪) |
| واردات | 6,388.37 | 100% | 6,419.67 | 100% | 9,339.60 | 100 % | 7,294.63 | 100 % | 7,679.09 | 100 % |
| صنعتي مواد | 614.77 | 9.6% | 969.88 | 15.1% | 1272.14 | 13.6% | 863.19 | 11.8 % | 709.19 | 9.2 % |
| نفت او روغنیات | 2,184.59 | 34.2% | 1,083.65 | 16.9% | 2167.37 | 23.2% | 1155.94 | 15.8 % | 1688.58 | 22.0% |
| مصرفي توکي | 857.38 | 13.4% | 1,255.48 | 19.6% | 1942.85 | 20.8% | 2345.86 | 32.2 % | 1715.25 | 22.3% |
| پانګه ایزې توکي او داسې نور | 2,731.63 | 42.8% | 3,110.66 | 48.5% | 3,957 | 42.4 % | 2929.64 | 40.2 % | 3566.07 | 46.4% |
| صادرات | 375.03 | 100% | 261.63 | 100.0% | 499.81 | 100 % | 620.88 | 100 % | 555.71 | 100% |
| غالي او ټغر | 46.60 | 12% | 8.43 | 3.2% | 85.5 | 17.1% | 87.04 | 14.0% | 108.31 | 19.5% |
| خوراکي توکي | 133.39 | 36% | 104.23 | 39.8% | 175.92 | 35.2 % | 272.13 | 43.8% | 210.17 | 37.8% |
| څرمن او وړۍ | 28.07 | 7% | 26.82 | 10.3% | 59.54 | 11.9% | 49.35 | 7.9 % | 28.47 | 5.1% |
| طبي بذرونه او داسې نور | 166.97 | 45% | 122.15 | 46.7% | 178.86 | 35.8% | 212.36 | 34.2% | 208.76 | 37.6% |
| سوداګریز بیلانس | -6,013.34 | | -6,158.04 | | -8,839.79 | | -6,673.75 | | -7,123.38 | |
| د کورني ناخالص تولید له مخې د سوداګرۍ د بیلانس سلنه | -33% | | -31% | | -43% | | -31% | | -33% | |

**سرچینه:** د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۶.۴ ګراف: د سوداګرۍ کړنه او د سوداګرۍ بیلانس
(په میلیون امریکایي ډالر)




**سرچینه:** د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۳.۴ د سوداګرۍ لوری

د افغانستان د صادراتو عمده هېوادونه پاکستان، ایران، هند، چین او د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) دي.

د سوداګریزو توکو د شمېرو له مخې، د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې د افغانستان تر ټولو لوی صادراتي شریک پاکستان دی. پاکستان ته د افغانستان د صادراتو ونډه د ۳۴ سلنې څخه ۳۲.۶۴ سلنې ته لږ څه راټيټه شوې ده.

د ارزښت له پلوه، پاکستان ته صادراتو ۹ سلنه وده موندلې چې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۳۹.۹۵ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال ورته ربعه کې ۴۳.۳۵ میلیون امریکایي ډالرو ته لوړ شوی دی.


د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه د افغانستان د صادراتو دوېم ستر پېرودونکي دي. د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونو ته د افغانستان د صادراتو ونډه د تېر کال د لومړي ربعې د ۱۶ سلنې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۲۴.۲۱ سلنې ته لوړه شوې ده.

د ارزښت له پلوه، د ګډو ګټو خپلواکو هېوادونو ته د افغانستان ټولیز صادرات ۷۳ سلنه زیات شوي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۱۸.۵۴ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال ورته ربعه کې ۳۲.۱۶ میلیون امریکایي ډالرو ته لوړ شوی دی.

د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې هند د افغانستان د صادراتو درېم ستر پېرودونکی پاتې شوی دی. هند ته د صادراتو ونډه د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۳۳.۲۹ سلنې څخه ۲۱.۰۶ سلنې ته راټيټه شوې ده.


هند ته صادرات د ارزښت له پلوه ۲۸ سلنه راکم شوي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۳۹.۰۳ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ارزونې لاندې مودې کې ۲۷.۹۷ میلیون امریکایي ډالرو ته راکم شوي دي.

۷.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)،
د ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه




**سرچینه:** د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۸.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)،
د ۱۳۹۴ مالي کال لومړۍ ربعه




**سرچینه:** د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعې کې د افغانستان د وارداتو لپاره تر ټولو لویه سرچینه وه. د ګډو ګټو خپلواکو هېوادونو څخه ټولیزه واردات ۲۲ سلنه کم شوي دي چې د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړي ربعې کې د ۲۵.۲۱ سلنې ونډې سره د ۴۶۰.۸۰ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ارزونې لاندې مودې کې د ۲۱.۷۷ سلنې ونډې سره ۳۶۰.۵۰ میلیون امریکایي ډالرو ته راټیټ شوي دي.


د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې ایران د افغانستان د وارداتو لپاره تر ټولو لویه سرچینه وه. له ایران څخه ټولیزه واردات د ۳۳۹.۷۵ میلیون امریکایي ډالرو څخه ۳۵۵.۵۳ میلیون امریکایي ډالرو ته لوړ شوي چې په ټولیزه وارداتو کې یې ونډه هم د ۱۸.۵۸ سلنې څخه ۲۱.۴۷ سلنې ته زیاته شوې ده.

د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې پاکستان د افغانستان د وارداتو لپاره دریم لوی هېواد و. په ټولیزه وارداتو کې له پاکستان څخه د وارداتو ونډه د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۱۸.۴۵ سلنې څخه د ارزونې لاندې موده کې ۱۷.۶۱ سلنې ته راټیټه شوې ده. د ارزښت له پلوه، له پاکستان څخه ټولیزه واردات د تېر کال د لومړي ربعې د ۳۳۷.۳۰ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۲۹۱.۶۸ میلیون امریکایي ډالرو ته راولوېدلې دي چې ۱۴ سلنه کموالی په ګوته کوي.


چین په دې موده کې د افغانستان د وارداتو لپاره څلورمه ستره سرچینه پاتې شوې ده. له چین څخه ټولیزه واردات د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۱۶.۷۹ سلنې ونډې سره د ۳۰۶.۹۸ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۲۵۹.۹۶ میلیون امریکایي ډالرو ته راټیټ شوي دي چې ۱۵ سلنه کموالی ښکاره کوي.

د افغانستان د وارداتو لپاره جاپان، هند او امریکا په ترتیب سره پنځم، شپږم او اووم لویې سرچینې دي چې د ټولیزه وارداتو ۴.۲۵ سلنه، ۱.۹۲ سلنه او ۱.۴۴ سلنه جوړوي.

۹.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)
د ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه




۱۰.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)
۱۳۹۴ مالی کال لومړۍ ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۲.۴ جدول: د بهرني سوداګرۍ لورى: ۱۳۹۴ مالي کال (په میلیون امریکایي ډالرو)

| نام کشور | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | 223.36 | 40.19% | 1391.99 | 18.13% | -1168.63 |
| هند | 169.08 | 30.43% | 127.25 | 1.66% | 41.83 |
| ایران | 29.57 | 5.32% | 1742.18 | 22.69% | -1712.61 |
| جرمني | 6.87 | 1.24% | 33.09 | 0.43% | -26.22 |
| چین | 11.66 | 2.10% | 1,090.92 | 14.21% | -1079.26 |
| بریتانیا | | 0.00% | 5.41 | 0.07% | -5.41 |
| سعودي عربستان | 0.25 | 0.04% | | 0.00% | 0.25 |
| امریکا | | 0.00% | 244.54 | 3.18% | -244.54 |
| د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه | 44.13 | 7.94% | 1581.00 | 20.59% | -1536.87 |
| جاپان | | 0.00% | 302.27 | 3.94% | -302.27 |
| نور هېوادونه | 70.79 | 12.74% | 1160.47 | 15.11% | -1089.68 |
| ټولیز | **555.71** | **100%** | **7,679.12** | **100%** | **(7,123.41)** |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۳.۴ جدول: د بهرني سوداګرۍ لورى: ۱۳۹۳ مالي کال (په میلیون امریکایي ډالرو)

| نام کشور | صادرات | سهم (٪) | واردات | سهم (٪) | بیلانس تجارى |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | 212.61 | 34.24% | 1360.89 | 18.66% | -1148.28 |
| هند | 153.05 | 24.65% | 117.32 | 1.61% | 35.73 |
| ایران | 40.89 | 6.59% | 1424.21 | 19.52% | -1383.32 |
| جرمني | 18.56 | 2.99% | 76.47 | 1.05% | -57.91 |
| د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه | 30.22 | 4.87% | 1739.20 | 23.84% | -1708.98 |
| چین | 31.32 | 5.04% | 824.13 | 11.30% | -792.81 |
| سعودي عربستان | 0.43 | 0.07% | | 0.00% | 0.43 |
| جاپان | | 0.00% | 216.27 | 2.96% | -216.27 |
| بریتانیا | | 0.00% | 5.73 | 0.08% | -5.73 |
| امریکا | | 0.00% | 78.13 | 1.07% | -78.13 |
| نور هېوادونه | 133.80 | 21.55% | 1452.31 | 19.91% | -1318.51 |
| ټولیز | **620.88** | **100.00%** | **7294.66** | **100.00%** | **-6673.78** |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه


**۴.۴ د سوداګرۍ ترکیب**

د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې د وارداتو ترکیب ښیي چې،

- د پانګه ایزو توکو واردات د وارداتو په ټوکرۍ کې تر ټولو زیاته ونډه چې ۴۷.۲ سلنه کیږي، جوړوي. د دا شان توکو واردات د ارزښت له پلوه ۱ سلنه راکم شوي دي چې د ۱۳۹۴ کال د لومړي ربعې د ۷۸۹.۸۵ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۷۸۱.۵٦ میلیون امریکایي ډالرو ته راکم شوي دي.
- د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې د وارداتو په ټوکرۍ کې، مصرفي توکي تر ټولو لویه دویمه ونډه جوړوي، که څه هم ونډه یې د ۲۹.۳ سلنې څخه د ارزونې لاندې کال کې ۲۸.۱ سلنې ته رالوېدلې ده. د دا شان توکو واردات هم د ارزښت له پلوه ۱۳ سلنه راټیټ شوي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۵۳۵.۴۵ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې ۴٦۵.۵۴ میلیون امریکایي ډالرو ته راکم شوي دي.
- د نفتو او روغنیاتو واردات هم د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې دریمه ستره ونډه درلودلې چې د ارزونې لاندې موده کې د ۱۹.۵ سلنې څخه ۱۷ سلنې ته راټیټه شوې ده. په ټولیزه وارداتو کې د دا شان توکو واردات د ارزښت له پلوه ۲۰ سلنه راکم شوي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۳۵٦.۱۵ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال ورته ربعې کې ۲۸۴.۹٦ میلیون امریکایي ډالرو ته راټیټ شوی دی.
- صنعتي موادو د ارزونې په موده کې د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې تر ټوله لږه ونډه درلودلې، چې د ټولیزه وارداتو ونډه د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۸ سلنې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۷.۵ سلنې ته راټیټه شوې ده.


د دا شان توکو واردات هم د ارزښت له پلوه ۱۵ سلنه راکم شوي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۱۴٦.۷۱ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۱۲۴.۴۲ میلیون امریکایي ډالرو ته ټیټوالی موندلی دی. د صنعتي موادو لکه فلزونو، کیمیاوي سرې یا پارو، کیمیاوي موادو او سمنټو عرضه د سیاسي او امنیتي ناډاډمنتیا له امله په ټول هېواد کې د پرمختیایي پروژو په شمېر کې د کموالي په پایله کې راکمه شوې ده (۳.۴ – ۴.۴ جدولونه او ۱۱.۴ – ۱۲.۴ ګرافونه).

۱۱.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)
د ۱۳۹۴ مالي کال لومړۍ ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۱۲.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)
د ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۵.۴ د صادراتو ترکیب

د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې د صادراتو ترکیب ښیي چې،

- د خوراکي توکو صادراتو د هېواد د صادراتو په ټوکرۍ کې تر ټولو لویه ونډه درلودلې ده. د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې د خوراکي توکو ونډه د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۳۰.۹ سلنې څخه ۵۱.۴ سلنې ته زیاته شوې ده.

د خوراکي توکو (غوړیو، بذرونو، تازه او وچه مېوه) د صادراتو څخه ترلاسه شوي عواید ۸۹ سلنه زیات شوي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۳۶.۱۷ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ کال په همدې ربعه کې ۶۸.۲۷ میلیون امریکایي ډالرو ته لوړ شوي دي.

- د ټولیزه صادراتو دوېمه ستره ونډه طبي بذرونه جوړوي، په داسې حال کې چې دا ونډه د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۳۲.۳ سلنې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په همدې ربعه کې ۳۰.۹ سلنې ته راټیټه شوې ده. دا په داسې حال کې ده چې د طبي بذرونو صادرات د ارزښت له پلوه ۸ سلنه زیات شوي چې د تېرې ربعې او د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۳۷.۹۲ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۴۱.۰۹ میلیون امریکایي ډالرو ته لوړ شوی دی.
- غالۍ او ټغر چې په تېره لسیزه کې د هېواد له عمده صادراتو څخه شمېرل کېده، په ټولیزه صادراتو کې یې درېمه لویه ونډه درلودلې ده. په داسې حال کې چې د غالیو او ټغرونو ونډه د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۴.۵ سلنې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۲.۲ ته راټیټه شوې ده.


د غالیو او ټغرونو د صادراتو څخه ترلاسه شوي عواید هم ۴۶ سلنه راکم شوي چې د ارزونې لاندې موده کې ۲۰.۵۵ میلیون امریکایي ډالرو ته رسېږي.

- د هېواد د صادراتو په ټوکرۍ کې د څرمنو او وړیو ونډه ترټولو لږه ده چې د ۴.۵ سلنې څخه د ارزونې لاندې موده کې ۲.۲ سلنې ته راټیټه شوې ده.

د څرمنو او وړیو د صادراتو څخه ترلاسه شوي عواید د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۵.۲۸ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۲.۹۲ میلیون امریکایي ډالرو ته راکم شوي دي.


۱۳.۴ او ۱۴.۴ ګرافونه د ۱۳۹۴ مالي کال او د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړیو ربعو د صادراتو ترکیب توضیح کوي.

**۱۳.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه**




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۱۴.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه) د ۱۳۹۴ مالي کال لومړۍ ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۶.۴ بهرنۍ پوراينې

د هېواد ټولیزه بهرنۍ پوراينې شاوخوا ۲.۲ سلنه کموالی موندلی چې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۲،۱۸۴.۲۴ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال ورته ربعه کې ۲،۱۳۶.۹۵ میلیون امریکایي ډالرو ته راکم شوي دي چې نږدې ۴۷.۲۸ میلیون امریکایي ډالر کموالی په ګوته کوي.

د ټولیزه بهرنۍ پوراينې د کموالي لاملونه د بهرنۍ سوداګرۍ د پور ادایني، د نړیواله خالصه شتمنیو (NIR) د امانتونو او د برداشت په ځانګړي حقونو (SDR) کې د کموالي په شان اوږدمهاله عواملو پورې تړاو لري.

د ارزوني لاندې موده کې د آسیا پراختیایي بانک او د پیسو د نړیوال صندوق ته اصلي پورونه بیرته ادا شوي دي او په همدې حال کې د خدمتونو فیسونه د نړیوال بانک او OPEC صندوق ته لیږدول شوي دي.

په همدې حال کې نړیوال بانک او د افغانستان لویو څو اړخیزو پور ورکوونکو د ارزوني لاندې موده کې ځینې اصلي پورونه او د خدمتونو لګښتونه معاف کړي دي.


د پاریس کلب پور ورکوونکو Paris Club Creditors ته د ادایني وړ ټولیز مبلغ د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې ۸۹۸.۳۱ میلیون امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د روسیې فدراسیون ته د ادایني وړ دی.

په بل عبارت، د پاریس کلب د غړو څخه ترلاسه شوی ټولیزه پور د اوسني ټولیزه بهرنۍ پوراينې ۴۲ سلنه جوړوي. د یادولو وړ ده چې د افغانستان ټولیزه پور د تېر کال په پرتله ۱ سلنه کموالی موندلی دی.

له دې سربېره، د پاریس کلب غړو پرته ټولیز پور چې په کې د سعودي پراختیایي فنډ، بلغاریا، کویټ فنډ او ایران شامل دي، ۳ سلنه راکم شوي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۸۷.۸۶ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۸۴.۸۵ میلیون امریکایي ډالرو ته راټیټ شوی دی.

له بلې خوا، د افغانستان د څو اړخیزو پور ورکوونکو څخه ټولیزه پور له ۱،۱۹۷.۸۲ میلیون امریکایي ډالرو څخه ۱،۱۵۲.۰۳ میلیون امریکایي ډالرو ته راټیټ شوی چې د راپور ورکولو په موده کې په ټولیزه پوراينې کې ۴۴.۳ میلیون امریکایي ډالره کموالی په ګوته کوي.

۱۵.۴ ګراف: د بهرنۍ پورونو پرتله کول، د ۱۳۹۳ کال دریمه ربعه او د ۱۳۹۴ کال دریمه ربعه




سرچینه: د پوراينې شتمنیو د مدیریت اداره، د مالیې وزارت

**۴.۴ جدول: د بهرنی پوراینې ویشنه، د ۲۰۱۴ مالي کال** (په ښودل شویو واحدونو کې)

| | په میلیون امریکایي ډالر | د ټولیز سلنه |
|---|---|---|
| ټولیزه بهرنی پوراینې | 2,139.77 | 100.00 |
| دوه اړخیز | 983.63 | 45.97 |
| پاریس کلب | 898.84 | 42.01 |
| د روسیې فدراسیون | 898.84 | 42.01 |
| امریکا | - | 0.00 |
| جرمني | - | 0.00 |
| د پاریس کلب پرته | 84.79 | 3.96 |
| څو اړخیز | 1,156.14 | 54.03 |
| چې پکې: IDA (نړیوال بانک) | 357.99 | 16.73 |
| د آسیا پراختیایي بانک | 655.33 | 30.63 |
| د پیسو نړیوال صندوق | 92.41 | 4.32 |
| اسلامي پراختیایي بانک | 48.62 | 2.27 |
| د OPEC صندوق | 1.79 | 0.08 |

**سرچینه:** د پور شتمنیو د مدیریت اداره، د مالیې وزارت، افغانستان

## ۷.۴ خالصه نړیوالې زیرمې


د شته وروستیو شمېرو له مخې، خالصه نړیوالې زیرمې ۳.۷۲ سلنه راکمې شوي چې د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې ۶،۵۴۸.۴۳ میلیون امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته ربعې د ۶،۸۰۱.۴۵ میلیون امریکایي ډالرو څخه ټیټوالی ښکاره کوي (۷.۴ جدول او ۱۴.۴ ګراف).

د خالصه نړیوالې زیرمې د کچې د کموالي عمده لامل د زیرمو شتمنۍ کموالی دی چې ۳.۵۶ سلنه راکم شوی او د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۷،۳۴۳.۷۳ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې ۷،۰۸۲.۶۰ میلیون امریکایي ډالرو ته راکم شوی دی.

همدا رنګه، د زیرمو پوراینې ۱.۵۰ سلنه کموالی ثبت کړی چې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۵۴۲.۲۹ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په همدې ربعه کې ۵۳۴.۱۷ میلیون امریکایي ډالرو ته راښکته شوی دی. د زیرمو په پوراینو کې کموالی په عمده توګه د تمویلي منابعو کارولو پورې اړه ورکول کېږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۱۰۱.۶۹ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۸۱.۴۳ میلیون امریکایي ډالرو ته راښکته شوی چې ۲۰ سلنې ته رسېږي. د زیرمو د پوراینو دا کموالی د سوداګریزو بانکونو د بهرنیو اسعارو امانتونو پورې اړه ورکول کېږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي ربعې د ۴۴۳.۸۰ میلیون امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړي ربعه کې ۴۳۳.۵۷ میلیون امریکایي ډالرو ته راکم شوی چې ۲.۳۰ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

اوس مهال، خالصه نړیوالې زیرمې په منځنۍ ډول شاوخوا د ۱۱ میاشتو وارداتو لپاره بسنه کوي چې د زیرمو لپاره د مناسبه وضعیت په توګه پېژندل کېږي. د خالصه نړیوالې زیرمې د کموالي لامل د بهرنیو او شخصي ارسالي وجوه په بڼه د اسعارو د پام وړ بهر بهیدنې ښودل شوي دي. د افغانستان د خالصه نړیوالې زیرمې اوسنی وضعیت د پولي سیاست د ظرفیت او د ادراینو د بیلانس لپاره ښه مرسته برابروي.

**۱۶.۴ ګراف: د تېرې ربعې خالصه نړیوالې زیرمې**
**(په میلیون امریکایي ډالرو)**




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

## ۵.۴ جدول: د توکو سوداګري (په میلیون امریکایي ډالر)

| کلونه | ۱۳۹۱ مالي کال | | ۱۳۹۲ مالي کال | | ۱۳۹۳ مالي کال | | ۱۳۹۴ لومړی ربعه | | ۱۳۹۵ لومړی ربعه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ټولیز | ونډه (سلنه) | ټولیز | ونډه (سلنه) | ټولیز | ونډه (سلنه) | ټولیز | ونډه (سلنه) | ټولیز | ونډه (سلنه) |
| واردات | 6,419.67 | 100% | 9,339.60 | 100 % | 7,294.63 | 100 % | 1,828.16 | 100% | 1,656.21 | 100 % |
| صنعتي مواد | 969.88 | 15.1% | 1,272.14 | 13.6 % | 863.19 | 11.8 % | 146.71 | 8.0% | 124.42 | 7.5 % |
| نفت او روغنیات | 1,083.65 | 16.9 % | 2,167.37 | 23.2 % | 1155.94 | 15.8% | 356.15 | 19.5% | 284.69 | 17.2 % |
| مصرفي توکي | 1,255.48 | 19.6 % | 1,942.85 | 20.8 % | 2345.86 | 32.2% | 535.45 | 29.3 % | 465.54 | 28.1% |
| پانګه ایزې توکي او داسې نور | 3,110.66 | 48.5% | 3,957.24 | 42.4 % | 2,930 | 40.2% | 789.85 | 43.2 % | 781.56 | 47.2% |
| صادرات | 261.63 | 100% | 499.81 | 100.0% | 620.88 | 100 % | 117.24 | 100 % | 132.83 | 100 % |
| غالي او ټغرونه | 8.43 | 3 % | 85.49 | 17.1 % | 87.0 | 14.0 % | 37.87 | 32.3% | 20.55 | 15.5 % |
| خوراکي توکي | 104.23 | 40 % | 175.92 | 35.2 % | 272.13 | 43.8% | 36.17 | 30.9% | 68.27 | 51.4 % |
| څرمن او وړی | 26.82 | 10 % | 59.54 | 11.9 % | 49.35 | 7.9 % | 5.28 | 4.5% | 2.92 | 2.2 % |
| طبي بذرونه او داسې نور | 122.15 | 47 % | 178.86 | 35.8% | 212.36 | 34.2 % | 37.92 | 32.3% | 41.09 | 30.9% |
| د سوداګری بیلانس | -6,158.04 | | -8,839.79 | | -6,673.75 | | -1,710.92 | | -1,523.38 | |
| د کورني ناخالصه تولیداتو د ونډې په توګه د سوداګری بیلانس | -31% | | -43% | | - 31% | | -8% | | - 7% | |

**سرچینه:** د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

## ۶.۴ جدول: د افغانستان د ادباینو بیلانس (په میلیون امریکایي ډالرو)

| اقلام/کلونه | ۱۳۹۴ لومړی ربعه | ۱۳۹۴ دویمه ربعه | ۱۳۹۴ دریمه ربعه | ۱۳۹۴ څلورمه ربعه | ۱۳۹۵ لومړی ربعه |
|---|---|---|---|---|---|
| جاري حساب | -839.43 | -1162.05 | -1770.08 | -1090.71 | -1199.57 |
| کریډېټ | 1218.61 | 1032.72 | 968.10 | 788.23 | 779.77 |
| ډېبټ | -2058.04 | -2194.78 | -2738.18 | -1878.95 | -1979.35 |
| د توکو حساب | -1500.51 | -1625.15 | -2042.63 | -1288.93 | -1482.51 |
| کریډېټ | 128.89 | 121.96 | 162.90 | 166.24 | 133.63 |
| ډېبټ | -1629.41 | -1747.10 | -2205.53 | -1455.17 | -1616.14 |
| دخدمتونو حساب | -102.78 | -202.17 | -200.43 | -223.85 | -191.94 |
| کریډېټ | 263.84 | 190.36 | 278.96 | 133.28 | 121.31 |
| ډېبټ | -366.62 | -392.54 | -479.38 | -357.13 | -313.26 |
| د عاید حساب | 72.71 | 48.19 | 37.34 | 21.72 | -4.55 |
| کریډېټ | 107.12 | 68.88 | 63.58 | 47.40 | 15.07 |
| ډېبټ | -34.41 | -20.69 | -26.24 | -25.68 | -19.62 |
| جاري لیږدونې | 691.16 | 617.08 | 435.63 | 400.34 | 479.42 |
| کریډېټ | 718.76 | 651.52 | 462.66 | 441.30 | 509.76 |
| ډېبټ | -27.60 | -34.45 | -27.03 | -40.96 | -30.34 |
| پانګه ایز او مالي حسابونه | 116.36 | 203.33 | 466.29 | 511.98 | -57.62 |
| پانګه ایز حساب | 212.75 | 285.78 | 242.52 | 447.81 | 118.14 |
| کریډېټ | 220.30 | 299.31 | 252.90 | 448.21 | 121.05 |
| ډېبټ | -7.56 | -13.52 | -10.38 | -0.41 | -2.91 |
| پانګه ایزې لیږدونې | 219.37 | 296.42 | 251.85 | 447.81 | 121.05 |
| کریډېټ | 220.30 | 298.98 | 252.85 | 448.21 | 121.05 |
| ډېبټ | -0.93 | -2.55 | -0.99 | -0.41 | 0.00 |
| مالي حساب | -96.39 | -82.45 | 223.77 | 64.17 | -175.76 |
| مستقیمه پانګونه | 17.80 | 33.18 | 77.98 | 40.20 | 17.74 |
| د پورټفولیو پانګونې | -14.82 | -36.55 | -15.83 | -14.31 | -18.47 |
| شتمنۍ | -14.82 | -36.55 | -15.83 | -14.31 | -18.47 |
| پوراینې | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| نورې پانګونې | 44.01 | -33.11 | -80.40 | -26.37 | -76.76 |
| شتمنۍ | 54.15 | -20.13 | -96.84 | -8.38 | -89.19 |
| پوراینې | -10.13 | -12.98 | 16.44 | -17.99 | 12.42 |
| د زیرمو شتمنۍ | -143.37 | -45.97 | 242.02 | 64.65 | -98.27 |
| خالصه خطاګانې او تیروتنې | -723.07 | -958.72 | -1303.79 | -578.74 | -1257.20 |
| ټولیز بیلانس | | | | | |

### ۷.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لورې: د ۱۳۹۴ مالي کال لومړۍ ربعه (په میلیون امریکایي ډالر)

| د هېواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | 39.95 | 34.08% | 337.30 | 18.45% | -297.35 |
| هند | 39.03 | 33.29% | 28.47 | 1.56% | 10.56 |
| ایران | 4.53 | 3.86% | 339.75 | 18.58% | -335.22 |
| جرمني | 2.83 | 2.41% | 9.94 | 0.54% | -7.11 |
| د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه | 18.54 | 15.81% | 460.80 | 25.21% | -442.26 |
| چین | 2.57 | 2.19% | 306.98 | 16.79% | -304.41 |
| سعودي عربستان | 0.12 | 0.10% | | 0.00% | 0.12 |
| جاپان | | 0.00% | 80.66 | 4.41% | -80.66 |
| بریتانیا | | 0.00% | 1.60 | 0.09% | -1.60 |
| امریکا | | 0.00% | 23.85 | 1.30% | -23.85 |
| نور هېوادونه | 9.67 | 8.25% | 238.83 | 13.06% | -229.16 |
| ټولیز | 117.24 | 100.00% | 1828.18 | 100.00% | -1710.94 |

### ۸.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لورې : د ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه (په میلیون امریکایي ډالر)

| د هېواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | 43.35 | 32.64% | 291.68 | 17.61% | -248.33 |
| هند | 27.97 | 21.06% | 31.76 | 1.92% | -3.79 |
| ایران | 6.08 | 4.58% | 355.53 | 21.47% | -349.45 |
| جرمني | 1.56 | 1.17% | 7.80 | 0.47% | -6.24 |
| د ګډو ګټو خپلواکه هیوادونه | 6.49 | 4.89% | 259.96 | 15.70% | -253.47 |
| چین | | 0.00% | 3.93 | 0.24% | -3.93 |
| سعودي عربستان | 4.83 | 3.64% | | 0.00% | 4.83 |
| جاپان | | 0.00% | 23.93 | 1.44 % | -23.93 |
| بریتانیا | 32.16 | 24.21% | 360.50 | 21.77% | -328.34 |
| امریکا | | 0.00% | 70.37 | 4.25% | -70.37 |
| نور هېوادونه | 10.39 | 7.82 % | 250.78 | 15.14 % | |
| ټولیز | 132.83 | 100% | 1,656.24 | 100% | (1,523.41) |

**۹.۴ جدول: خالصه نړیوالې زیرمې، د ۱۳۹۴ مالي کال (په میلیون امریکایي ډالرو)**

| د تېرې ربعې بدلونونه | ۱۳۹۱ مالي کال | د بدلون سلنه | ۱۳۹۲ مالي کال | د بدلون سلنه | ۱۳۹۳ مالي کال | د بدلون سلنه | ۱۳۹۴ مالي کال | د بدلون سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خالصه نړیوالې زیرمې (په میلیون امریکایي ډالر) | 6,471.94 | 23.22 | 6,678.62 | 3.19 | 6,693.65 | 0.22 | 6,443.00 | - 3.74 |
| د زیرمو شتمنۍ | 6,866.79 | 22.71 | 7,183.33 | 4.61 | 7,247.76 | 0.90 | 6,965.81 | - 3.89 |
| د زیرمو پوراینې | 394.85 | 10.91 | 504.71 | 27.82 | 554.12 | 9.79 | 522.80 | - 5.65 |
| د سوداګریزو بانکونو د اسعارو امانتونه | 245.00 | 4.00 | 367.65 | 50.06 | 443.80 | 20.71 | 433.57 | -2.30 |
| د اسعارو نا میشته امانتونه | 0.11 | -89.57 | 0.14 | 23.87 | 0.14 | -0.02 | 0.14 | 0.00 |
| د تمویلي سرچینو کارول | 149.73 | 17.53 | 136.92 | -8.56 | 110.18 | -19.53 | 89.10 | -19.14 |
| ناخالصه نړیواله زیرمې (د وارداتو په میاشتو کې) | 12.84 | | 9.23 | | 11.92289856 | | 10.88536 | |
| خالصه نړیوالې زیرمې (د وارداتو په میاشتو کې) | 12.10 | | 9 | | 11 | | 10 | |

**سرچینه:** د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

# ۵

# د مالي سکتور بدلونونه

# د مالي سکتور بدلونونه

د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړي ربعه کې د عامه سکتور ټولیزه کړنه ډېره کمزوره وه چې لامل یې د پارلمان له لوري د بودجې په تصویب کې ځنډ ویل شوي چې دې سره د بسپنه ورکوونکو مرستې هم لږې شوي دي.

له دې سربېره، د افغانستان عامه لګښتونه د ۲۰۱۶ مالي کال کې د امنیتي وضعیت د خرابوالي له امله چې خصوصي پانګونه یې زیانمنه کړې، د بودجې اجرا یې ځنډولې او د پانګې د تیښتې لامل شوی دی، نامتوازنه پاتې شوی دی. دا عوامل د حکومت لپاره د عادي بودجې د زیاتوالي ترڅنګ د مالي ټینګښت هدف په ترلاسه کولو کې جدي ننګونې ولاړې کړې دي.

## ۱.۵ د بودجې د اجرا نرخ

د ۲۰۱۶ مالي کال په درېو لومړیو میاشتو کې د ځانګړې شوې بودجې څخه د حکومت د اجرا ټولیز نرخ د تېر کال د ۱۰ سلنې په پرتله ۱۰.۵۹ سلنه و. د جاري بودجې د اجرا نرخ د ۲۰۱۵ کال د ۱۳ سلنې په پرتله ۱۵ سلنې ته لوړ شوی دی. په همدې حال کې د پراختیایي لګښتونو د اجرا نرخ د تېر کال د لومړي ربعې د ۳ سلنې په پرتله ۳.۵۰ سلنې ته بدلون موندلی دی. د ۲۰۱۵ مالي کال د لومړي ربعې په پرتله د دې ربعې د اجرا نرخ لږ څه زیاتوالی ښکاره کوي.

د اصلي بودجې د اجرا نرخ ټیټوالی یو څو عواملو پورې تړل کیږي چې تر ټولو عمده یې د بودجې د تصویب ځنډول، په ولایتونو کې د نا امنو شرایطو او د بسپنه ورکوونکو د مرستو کموالی په ګوته شوي دي.

## ۲.۵ د بودجې کسر


د بسپنه ورکوونکو د مرستې دمخه د ټولیزې بودجې کسر د ۲۰۱۵ مالي کال په لومړي ربعه کې ۱۶.۴۵ میلیارده افغانۍ ته لوړ شوی دی. په همدې حال کې بودجه د بسپنې ورکوونکو مرستو په ګډون ۲۳.۷۴ میلیارد افغانۍ ډېرښت موندلی دی.

## ۳.۵ د عوایدو راټولول

د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړي ربعه کې راټول شوي کورني عواید ۳۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې ټولیزه عواید د ۲۰۱۵ مالي کال د ۲۴.۰۹ میلیارده افغانۍ په پرتله ۳۲.۴۲ میلیارده افغانۍ ته د پام وړ زیاتوالی موندلی دی.


په لومړي ربعه کې د مثبتو بدلونونو لامل د عوایدو د راټولولو سیستم، ګمرکاتو او د عوایدو په اداري کې سمونونه ویل شوي دي.

۱.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو ترکیب، ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه




سرچینه: د ماليې وزارت/ د پولي سیاست لوی آمریت محاسبه

**۲.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو پرتله کول، د ۲۰۱۶ مالي کال لومړۍ ربعه او د ۲۰۱۵ مالي کال لومړۍ ربعه**





سرچینه: د ماليې وزارت/د پولي سیاست لوی آمریت

### ۱.۳.۵ د ماليې عوايد

د ارزونې لاندې ربعه کې د ماليې ټوليزه عوايدو وده موندلې ده. د رسيدونو له مخې، د ماليې عمومي عوايد د ۲۰۱۵ مالي کال د ۱۴.۲۴ ميلیارده افغانۍ څخه د ۲۰۱۶ کال ۱۵.۵۲ ميلیارده افغانۍ ته زيات شوي دي چې ۹ سلنه يا ۱.۲۸ ميلیارده افغانۍ زياتوالی ښکاره کوي.


له بلې خوا، د ګمرکي حقوقو څخه ترلاسه شوې ټوليزه ماليه ۱۵ سلنه کموالی په ګوته کوي چې په ټوليزه توګه د ۲۰۱۵ مالي کال د ۵.۶۴ ميلیارده افغانۍ څخه د ۲۰۱۶ مالي کال ۴.۷۷ ميلیارده افغانۍ ته راټيټه شوې ده.

۳.۵ ګراف: د مالياتي عوايدو پرتله کول




سرچينه: د ماليې وزارت/ د پولي سياست لوی آمريت محاسبه

۴.۵ ګراف: د مالياتي عوايدو ترکيب




سرچينه: د ماليې وزارت/ د پولي سياست لوی آمريت محاسبه

### ۲.۳.۵ غير مالياتي عوايد

د کورني عوايدو عمده ونډه د غير مالياتي عوايدو څخه جوړه شوې چې ۷۷ سلنه زياتوالی ښکاره کوي او د ۲۰۱۵ مالي کال د لومړي ربعې د ۹.۲۷ ميلیارده افغانۍ په پرتله ۱۶.۳۷ ميلیارده افغانۍ ته لوړه شوې ده. د دې شيبه په شيبه زياتوالي عمده دليل د اداري فيسونو او د متفرقه عوايدو زياتوالی ښودل شوی دی. له بلې خوا، استخراجي صنعت چې د غير مالياتي عوايدو عمده برخه جوړوي، د ۲۰۱۵ مالي کال د لومړي ربعې په پرتله کمزوره کړنه درلودلې ده. دې صنعت د ۲۰۱۵ مالي کال د ۰.۱۴ ميلیارده افغانۍ څخه ۰.۰۳ ميلیارده افغانۍ ته کموالی موندلی چې ۷۹ سلنه ښکته والی ښکاره کوي.

ټولنيزه ونډه چې د ټوليزه کورني عوايدو يوازې ۲ سلنه جوړوي، ۱۰ سلنه ټيټوالی ښکاره کړی دی. ټوليزه راټول شوی مبلغ ۰.۵۲ ميلیارده افغانۍ دی چې د تېر کال د ۰.۵۸ ميلیارده افغانۍ څخه راښکته شوی دی.

### ۴.۵ مالي مرستې

د افغانستان حکومت د بيلابيلو بسپنه ورکوونکو، امانت دارو او نړيوالو کمپټو څخه مالي مرستې ترلاسه کوي چې د عادي او پراختيايي لګښتونو بيلابيل پروګرامونه تمويل کړي. تراکمي شوي مرستې د ۲۰۱۵ مالي کال په پرتله په ۲۰۱۶ مالي کال کې لږ څه کموالی په ګوته کوي.

د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړي ربعه کې ټوليزه پراختيايي او عادي مالي مرستې ۴۰.۲۰ ميلیارده افغانۍ ته رسېدلې چې د تېر کال د ۴۶.۶۱ ميلیارده افغانۍ څخه راکم شوي او ۱۴ سلنه کموالی ښکاره کوي. د دې ترڅنګ، د ARTF پروګرام له لارې ترلاسه شوې مالي مرستې د ۲۰۱۶ مالي کال کې ۷.۶۴ ميلیارده افغانۍ ته رسېدلې چې د ۲۰۱۵ مالي کال په پرتله ۸۳

سلنه لوړوالی ښکاره کوي. له بلې خوا، د LOTFA پروګرام له لارې ترلاسه شوي مالي مرستې د ۲۰۱۵ مالي کال په لومړي ربعه کې ۷.۱۴ میلیارده افغانی څخه د ارزونې لاندې ربعه کې ۶.۸۷ میلیارده افغانی ته راټیټ شوي چې ۴ سلنه کموالی په ګوته کوي.


کورني عواید د ټولیزې اصلي بودجې ۴۵ سلنه تمویل کړې او پاتې ۵۵ سلنه د بهرني مرستو له لارې تمویل شوي دي.

۵.۵ ګراف: د ملي بودجې د سرچینو تمویلول، ۱۳۹۵ کال لومړی ربعه




سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست لوی آمریت محاسبه

۶.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د مرستو پرتله کول
د ۱۳۹۵ مالي کال لومړی ربعه




سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست لوی آمریت محاسبه


## ۵.۵ لګښتونه

د ارزونې لاندې ربعه کې ټولیزه لګښتونه ۴۸.۸۸ میلیارده افغانی دي چې د تېر کال د ورته مودې د ۴۴.۲۶ میلیارده افغانی ټولیز لګښت په پرتله ۱۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

جاري لګښتونه د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړي ربعه کې ۴۱.۴۲ میلیارده افغانی ته زیات شوي چې د تېرې دورې د ۳۶.۹۸ میلیارده افغانی څخه ۱۲ سلنه لوړوالی ښکاره کوي.

همدا ډول، پراختیایي لګښتونه د تېرې دورې د ۷.۲۸ میلیارده افغانی څخه اوسني دورې کې ۷.۴۶ میلیارده افغانی ته زیات شوي چې ۲ سلنه لوړوالی څرګندوي.

۷.۵ ګراف: د حکومت د ټولیز لګښت ترکیب، ۱۳۹۵ مالي کال لومړی ربعه




سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست لوی آمریت محاسبه

# ۶

# د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

# ۶
# د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

د بانکي سکتور شتمنۍ د ۲۰۱۵ مالي کال د ډیسمبر میاشتې د ۳.۴۵ سلنې زیاتوالي په پرتله د ۲۰۱۶ مالی کال په لومړي ربعه کې ۰.۵۷ سلنه یا ۱.۵۵ میلیارده افغانۍ لږې شوي دي. د ارزونې لاندې موده کې د بانکي نظام د شتمنیو د کموالي عمده لامل د امانتونو کموالی ښودل شوی دی. د بانکي سکتور د ناخالصه پورونو پورټفولیو د ۲۰۱۵ مالي کال د وروستي ربعې د ۴.۵۵ سلنې زیاتوالي په پرتله د ارزونې لاندې موده کې ۰.۶۳ سلنه یا ۲۸۹ میلیون افغانۍ کموالی ښکاره کوي. په دې موده کې د پور په پورټفولیو کې کموالی په عمده توګه د مشتریانو له لوري د اضافه برداشت پورونو د لږې کارونې پورې اړه لري.

امانتونه چې د بانکي سکتور اصلي تمویلي سرچینه جوړوي او د بانکي نظام د ټولیزه پوراینې ۹۵.۶۶ سلنه جوړوي، ۲۳۱.۰۵ میلیارده افغانۍ دي چې د تېرې ربعې (چې د ۲۰۱۵ کال په ډیسمبر کې پای ته رسېږي) د ۸.۴۶ سلنې زیاتوالي په پرتله ۲.۵۱ سلنه کموالی په ګوته کوي. د بانکي سکتور د ټولیزه امانتونو د کموالي عمده لامل په افغانۍ د نومول شوي جاري امانتونو څخه برداشتونو پورې اړه ورکړل شوې ده. په افغانۍ نومول شوي امانتونو د تېرې ربعې د ۰.۹۶ سلنې زیاتوالي په پرتله ۹.۲۸ سلنه کموالی ښکاره کوي، حال دا چې په ډالرو نومول شوي امانتونه د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر میاشتې د ۱۱.۴۴ سلنې زیاتوالي په پرتله ۰.۴۳ سلنه کم شوی دی.

د بانکي سکتور پانګه ۱۲.۸۵ سلنه زیاته شوې ده چې د ارزونې لاندې موده کې ۲۷.۸۴ میلیارده افغانۍ ته رسېږي. په تېره ربعه کې د ټولیزه مالي پانګې زیاتوالی د ربعې په اوږدو کې د ترلاسه شویو ګټو پورې نسبت ورکړل شوی دی.

د بانکي سکتور د پانګې د کفایت نسبت ۲۱.۱۴ سلنه دی. ډېری بانکونه د پانګې د کفایت نسبت له ټاکل شوي حد څخه پورته دی، خو دوه بانکونه دې حد ته نږدې او د یو بانک نسبت منفي دی.

بانکي سکتور د تېرې ربعې د ۸۱۷ میلیون افغانۍ خالصې ګټې په پرتله د ارزونې لاندې ربعه کې ۲.۹۳ میلیارده افغانۍ خالصه ګټه ترلاسه کړې چې د شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه (ROA) او د اکویټي څخه ترلاسه شوې ګټه (ROE) د ۲۰۱۶ مالي کال په لومړي ربعه کې د پام وړ زیاتوالی موندلی دی. د شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه ۴.۳۵ سلنې ته زیاته شوې ده چې د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر میاشتې د ۰.۳۱ سلنې په پرتله ۰.۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د اکویټي څخه د ترلاسه شوې ګټې نسبت د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر میاشتې د ۲.۵۵ سلنې په پرتله ۴۳.۷۴ سلنې ته د پام وړ لوړوالی موندلی دی.


### ۱.۶ د بانکي نظام شتمنۍ

د بانکي نظام شتمنۍ د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر میاشتې د ۳.۴۵ سلنې زیاتوالي په پرتله د ارزونې لاندې موده کې ۰.۵۷ سلنه راکمه شوې ده.

د ټولیزې شتمنۍ ویشنه ښایي چې ارزونې لاندې ربعه کې تر ټولو پام وړ زیاتوالی د ټولیزې شتمنۍ په ټولو نورو کټګوریو کې راغلی دی چې ۵.۱۲ میلیارده افغانۍ (۵۶.۳۷ سلنه) زیات شوی دی، چې وروسته د بانکونو ترمنځ طلبات دي چې ۴.۵۸ میلیارده افغانۍ (۵.۸۵ سلنه) زیات شوي، بیا پانګونې دي چې ۹۶۶ میلیون افغانۍ (۵.۱۳ سلنه) زیاتې شوي، په داسې حال کې چې په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک

باندې طلبات، خالصه پورونه او ثابته شتمنی په ترتیب سره ۱۱.۰۱ میلیارده افغانۍ (۹.۴۹ سلنه)، ۷۶۰ میلیون افغانۍ (۱.۸۴ سلنه) او ۴،۴۵۶ میلیون افغانۍ (۶.۲۰ سلنه) لوړې شوي دي. د ټولیزې شتمنۍ پورټفولیو تر ټولو مهمې برخې په خزانه کې نغدې پیسې/ د افغانستان بانک باندې طلبات (۳۹.۰۰ سلنه)، د بانکونو تر منځ طلبات (۳۰.۷۸ سلنه)، خالصه پورونه (۱۵.۰۲ سلنه)، پانګونې (۷.۳۵ سلنه)، نورې شتمنۍ (۵.۲۶ سلنه) او ثابته شتمنی د ټولیزې شتمنۍ ۲.۵۶ سلنه جوړوي. ۱.۶ جدول وګورئ.

۱.۶ ګراف: په بانکي سکتور کې د بانکي ډلو ونډه (ټولیزه شتمنۍ)




**سرچینه:** د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

## ۱.۶ جدول: د شتمنۍ او پوراینې ترکیب


| مبلغ په میلیون افغانۍ | ۱۳۹۴ لیندۍ ۲۰۱۵ ډیسمبر | ۱۳۹۴ کب ۲۰۱۶ مارچ | د ټولیزې شتمنۍ/ پوراینې سلنه | ربعه په ربعه وده |
|---|---|---|---|---|
| **شتمنۍ** | | | | |
| په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات | 115,984 | 104,970 | 39.00 | - 9.49 | 115,984 |
| د بانکونو ترمنځ طلبات | 78,262 | 82,846 | 30.78 | 5.85 | 78,262 |
| پانګونې | 18,815 | 19,781 | 7.35 | 5.13 | 18,815 |
| پورونه (خالص) | 41,186 | 40,426 | 15.02 | -1.84 | 41,186 |
| ثابته شتمنۍ | 7,352 | 6,896 | 2.56 | - 6.2 | 7,352 |
| نور پوراینې | 9,090 | 14,214 | 5.28 | 56.37 | 9,090 |
| ټولیز | 270,689 | 269,133 | | - 0.57 | 270,689 |
| **پوراینې** | | | | |
| امانتونه | 237,002 | 231,054 | 95.66 | - 2.51 | 237,002 |
| پور اخیستنې | 4,452 | 3,694 | 1.53 | -17.02 | 4,452 |
| نور پوراینې | 4,561 | 6,798 | 2.81 | 49.04 | 4,561 |
| ټولیز | 246,015 | 241,546 | | -1.81 | 246,015 |
| مالي پانګه | 24,673 | 27,845 | | 12.85 | 24,673 |

**سرچینه:** د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۲.۶ ناخالصه پورونه

ټولیزه ناخالصه پورونو د تېر کال راهیسې ۲۸۹ میلیارده افغانۍ یا ۰.۶۳ سلنه ټیټوالی ښودلی چې د ټولیزې شتمنۍ ۱۶.۷۶ سلنه جوړوي. د ټولیزه پور په پورټوفولیو کې کموالی په عمده توګه د مشتریانو له لوري د اضافه برداشت د لېږې کاروني پورې تړل کېږي. د څوارلسو بانکونو له ډلې شپږو بانکونو د خپل پور په پورټوفولیو کې لږ څه زیاتوالي تجربه کړي، خو پاتې اته بانکونه بیا د کموالي شاهد وو. یو بانک (نوی کابل بانک) په پور ورکړې کې ګډون کړی نه دی.

**۲.۶ ګراف: د بانکي ډلو کې د ناخالصه پورونو د پورټوفولیو ونډه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

د ناخالصه پور پورټوفولیو په ټولو بانکي ډلو کې کموالی ښودلی دی. د ارزونې لاندې موده کې، خصوصي بانکونو په ټولیزه پورټوفولیو کې د ۹۲.۷۴ سلنې ونډې سره ۰.۳۱ سلنه یا ۱۳۱ میلیون افغانۍ کموالی ثبت کړی، همدا رنګه دولتي بانکونو د ۶.۰۱ سلنې ونډې سره ۱.۳۴ سلنه یا ۳۷ میلیون افغانۍ کموالی ښودلی او د بهرنیو بانکونو نمایندګیو د پورټوفولیو د ۱.۲۴ سلنه ونډې سره ۱۷.۵۹ سلنه یا ۱۲۰ میلیون افغانۍ ښکته شوی. د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو ټولیزه تامیناتو د تېر کال چې د ۲۰۱۴ کال په ډیسمبر کې پای ته رسیدلی، د ۷.۲۱ سلنې په پرتله ۹.۲۹ سلنې ته لوړ شوی دی.

#### ۱.۲.۶ د پور د زیان زیرمې

د ۲۰۱۶ کال د مارچ میاشتې (د ۱۳۹۴ کال کب میاشت) په پای کې د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو ټولیزه تامینات ۱۰.۴۰ سلنه وه چې د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر میاشتې په پای کې دا نرخ ۹.۲۹ سلنه ثبت شوی دی.

#### ۲.۲.۶ د کریډېټ ویشنه

د دې لپاره چې د پور د پورټوفولیو کچه پراخه او د خطر متنوع والی ارتوالی وومومي او د نویو عوایدو د ترلاسه کولو سربېره مالي منابعو ته لاسرسی زیات شي، د افغانستان بانک د نورو سوداګریزو پورونو د وېش سکتور په ۳۰ نورو سکتورونو وېشلی دی.[۱] په بیلابیلو سکتورونو کې د کریډېټ ویشنې تحلیل ښیي چې د پور د پورټوفولیو لویه ونډه د "د نورو سوداګریزو پورونو" په طبقه کې واقع کېږي (د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر د ۹۲.۷۸ سلنې په پرتله ۹۲.۸۳ سلنه) چې په عمده توګه د "پترولیمو او روغنیاتو" (۱۰.۴۶ سلنه)، "رغاونې او ودانۍ" (۸.۸۶ سلنه)، "عمده پلورنې" (۸.۴۸ سلنه)، "نورو ټولو خدمتونو" (۷.۷۸ سلنه) او د "سمنټو او رغاونې" (۷.۶۳ سلنه) په سکتورونو شتون لري. د پرچون پلورنې او د رغاونې او ودانۍ په سکتورونو کې د مطلقه مبلغ او د ټولیزه ناخالصه پورونو د سلنې له پلوه د پام وړ زیاتوالی لیدل شوي، په داسې حال کې چې د عمده پلورنې او د پرزه جاتو برخې تر ټولو زیات کمېدونکي سکتورونو په ډله کې دي. د کوچنې او منځنیو تشبثاتو او د کوچنې پورونو د سکتورونو لپاره ځانګړي شوي پورونو ۱۹۳ میلیون افغانۍ زیاتوالی ثبت کړی دی.

(۱) د حسابداری بیت المال، ۹۳/۰۱ شمېره، ۲۶/۶/۱۳۹۳ نېټه

## ۲.۶ جدول: د کریډټ سکتوري ویش

| | ۱۳۸۸ کب (د ۲۰۱۰ مارچ) | ۱۳۸۹ کب (۲۰۱۱ مارچ) | ۱۳۹۰ کب (۲۰۱۲ مارچ) | ۱۳۹۱ لیندۍ (۲۰۱۲ ډیسمبر) | ۱۳۹۲ لیندۍ (۲۰۱۳ ډیسمبر) | ۱۳۹۳ لیندۍ (۲۰۱۴ ډیسمبر) | ۱۳۹۴ لیندۍ (۲۰۱۵ ډیسمبر) | ۱۳۹۴ کب (۲۰۱۶ مارچ) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د سوداګریزه ملکیتونو او ودانیز پورونه | 19.92 | 25.98 | 2.85 | 2.29 | 2.02% | 1.80 % | 1.90 % | 1.69% |
| **نور سوداګریز پورونه** | - | - | - | - | - | | | |
| کان کېندنه | - | 0.02 | 0.72 | 0.11 | 0.07 % | | | |
| تولیدات | 1.22 | 2.72 | 13.32 | 11.88 | 9.36 % | | | |
| سوداګري | 32.29 | 34.16 | 27.84 | 28.3 | 29.81% | | | |
| اړیکې | 1.04 | 1.23 | 0.94 | 2.35 | 3.70 % | | | |
| خدمتونه | 4.84 | 6.72 | 11.95 | 15.94 | 22.11% | | | |
| تسهیلات | 2.47 | 0.03 | 0.3 | 0.07 | 0.05 % | | | |
| کرنیز پورونه | | | | | | 0.27 % | 0.33 % | 0.22 % |
| مالداري او فارمونه | | | | | | 0 % | 0.03 % | 0.03 % |
| تولیدات او صنایع (د وسپنې، لرګي، پلاستیک، ربړ تولید) | | | | | | 2 % | 4.42 % | 4.49 % |
| تولیدات، لاسي او ماشیني تولیدات | | | | | | 4 % | 4.24 % | 4.15 % |
| سمنټ او رغنیزه مواد | | | | | | 3 % | 1.96 % | 1.72 % |
| پوښاک | | | | | | 2.59 % | 0.52 % | 0.59 % |
| بریښنا | | | | | | 0.35 % | 0.22 % | 0.44 % |
| رغاونه او ودانۍ | | | | | | 12.52 % | 7.54 % | 8.86 % |
| خدمتونه | | | | | | 4.79 % | 3.80 % | 3.40 % |
| هوټل او رستورانټ | | | | | | 1.20 % | 1.46 % | 0.78 % |
| مخابرات | | | | | | 2.92 % | 5.70 % | 5.70 % |
| ځمکنۍ ترانسپورټ | | | | | | 4.87 % | 5.31 % | 5.74 % |
| هوایي ترانسپورټ | | | | | | 4.18 % | 2.66 % | 2.82 % |
| روغتیا او پالنه | | | | | | 0.71 % | 1.16 % | 1.69 % |
| رسنۍ، خبرتیاوې او مطبعې | | | | | | 0.04 % | 0.04 % | 0.03 % |
| نور ټول خدمتونه | | | | | | 1.41 % | 7.56 % | 7.78 % |
| عمده پلورنې | | | | | | 4.93 % | 9.89 % | 8.48 % |
| ماشین آلات | | | | | | 0.12 % | 0.25 % | 0.37 % |
| پترولیم او روغنیات | | | | | | 8.74 % | 9.80 % | 10.46 % |
| پرزه جات | | | | | | 0.24 % | 1.42 % | 0.20 % |
| الکترونیکي وسایل | | | | | | 1.40 % | 1.58 % | 1.45 % |
| سمنټ او نور رغنیزه مواد | | | | | | 1.87 % | 2.73 % | 2.01 % |
| خوراکي توکي | | | | | | 4.52 % | 8.24 % | 7.63 % |
| نور ټول توکي | | | | | | 5.72 % | 3.47 % | 4.08 % |
| پرچون پلورنه | | | | | | 3.92 % | 3.28 % | 5.06 % |
| سرک او د اورګاډي پټلۍ | | | | | | 2.41 % | 1.17 % | 1.09 % |
| بندونه | | | | | | 0.61 % | 0.09 % | 0.00 % |
| کانونه | | | | | | 0.08 % | 1.48 % | 0.46 % |
| نوري بیخ بنسټیزې پروژې | | | | | | 1.81 % | 2.44 % | 3.10 % |
| مالي او د پور ورکولو اداري | | | | | | 0.00 % | 0.00 % | 0.00 % |
| کرنیز پورونه | 0.88 | 0.75 | 2.06 | 2.66 | 2.38 % | 2.34 % | 2.35 % | 2.48 % |
| د مصرفوونکي پورونه | 1.33 | 1.01 | 0.82 | 0.74 | 0.24% | 0.26 % | 0.30 % | 0.31 % |
| انفرادي وګړو ته د استوګنیز رهن پور ورکړه | 7.3 | 8.95 | 15.65 | 14.46 | 10.84% | 7.14 % | 2.68 % | 2.68 % |
| نور ټول پورونه | 3.69 | 10 | 12.65 | 10.71 | 9.41 % | 6.68 % | 0.00 % | 0.00 % |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې آمریت/ د افغانستان بانک

### ۳.۲.۶ د پورونو ډله بندي

#### ۱.۳.۲.۶ صعب الحصول پورونه


صعب الحصول پورونه (NPLs) د ټوليزه ناخالصه پورونو ۱۵.۴۸ سلنه يا د مقرراتي پانګې ۲۸.۹۰ سلنه جوړوي چې مطلوب وضعيت کې نه ګڼل کيږي. له دې سربېره، ليدل کيږي چې د کريډټ خطر مخ په زياتېدو دی. د دې بهير په ليدلو سره ويلی شو چې په بانکونو کې د کريډټ د کمزوره کړنې سره د خطر مديريت کيفيت مخ په کمزوره کېدو دی. پکاره ده چې د هغو بانکونو چې د پور کيفيت يې ټيټ دی، د پور غوښتنليکونه په غور سره وارزول شي.

د ۲۰۱۶ کال د مارچ مياشتې په پای کې صعب الحصول پورونه له پولي پلوه ۱.۳۸ ميليارده افغانۍ زيات شوی چې په دې سره ټوليزه ناخالصه پورونه خپلې لوړې کچې يعني ۶.۹۹ ميلياره افغانۍ يا ۱۵.۴۸ سلنې او د بانکي نظام مقرراتي پانګه ۲۸.۹۰ سلنې ته رسېدلی چې په تېره ربعه کې د ټوليزه ناخالصه پورونو ۵.۶۰ ميلياره افغانۍ يا ۱۲.۳۴ سلنه جوړوي. د دې منفي بدلون لوی لامل د پور ټيټ کيفيت ښودل شوی دی. د صعب الحصول پورونو ۷۹ سلنې څخه زياته برخه دريو خصوصي سوداګريزو بانکونو پورې اړه لري چې د بانکي سکتور د ټوليزه ناخالصه پورونو ۶۳.۳۴ سلنه ونډه رانغاړي.

دا وضعيت مقرراتي څارنې او چټکه اصلاحي ګامونو ته اړتيا لري څو د کريډټ خطر مديريت ته وده ورکړي او د هغو بانکونو پر ګټورتيا او د پانګې کفايت باندې له منفي اغېزومخنيوی وکړي چې د پور (کريډټ) کيفيت يې کمزوره دی.

د سکتور په کچه د صعب الحصول پورونو ويش ښيي چې د صعب الحصول پورونو يوه لويه برخه چې ډېری يې سوداګري، خدمتونو او توليدي سکتورونو پورې اړه لري، له سوداګريزو پورونو څخه ترلاسه شوي دي.

۳.۶ ګراف: د پور د پورټفوليو کيفيت




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت/ د افغانستان بانک

#### ۲.۳.۲.۶ معکوس ډله بندي شوي پورونه

معکوس ډله بندي شوي پورونه (تحت المعيار، مشکوکه) په تېره ربعه کې ۷۵۵ ميليون امريکايي ډالره زياتوالی موندلی چې ۹.۴۵ ميلياره افغانۍ ته رسېدلی او د ټوليزه ناخالصه پورونو ۲۰.۹۵ سلنه يا د مقرراتي پانګې ۳۹.۱۲ سلنه جوړوي. دا بدلون د اداري له لوري پياوړي څارنې او اصلاحي تدابيرو ته اړتيا لري، څو معکوس ډله بندي شوي پورونه مناسبې کچې ته راکم کړي. له دې سربېره، په هغو بانکونو کې چې د پور (کريډټ) کيفيت يې ټيټ دی، د ګډې اداري پياوړتيا، د داخلي کنټرولي ابزارونو د ګټورتيا او اغېزناکتيا د لوړولو، د ذاتي او غير منظم خطر د کافي مديريت لپاره بايد ډېر پام وشي.

#### ۳.۳.۲.۶ تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه[۲]

تر نظر لاندې کټګورۍ کې صنف بندي شوي پورونه ۳.۵۲ ميلياره افغانۍ ته رسيږي چې د ټوليزه ناخالصه پورونو ۷.۸۲ سلنه جوړوي او د تېرې ربعې (۲۰۱۵ د ډيسمبر) څخه راهيسې ۲۷.۳۲ سلنه کموالی موندلی دی. دا کموالی په

(۲) هغه شتمنۍ او مخکې ورکړې چې اصلي مبلغ يا ټکتانه يې ۱ تر ۳۰ ورځو پورې تصفيه شوی نه وي (تر نظر لاندې) – د شتمنيو د ډله بندۍ او د پور د خسارې د جبران نوې مقرره

سیستم کې يو خصوصي سوداګريز بانک ته نسبت ورکول کېږي. د پورونو دا کټګوري نږدې ځارنې ته اړتيا لري، ځکه چې په راتلونکي کې د ډېرو معکوس ډله بندي شوي پورونو (تحت المعيار، مشکوکه) او زيانونو لامل کېږي.

**۴.۳.۲.۶ په خساره کټګورۍ کې پورونه**[۳]

په خساره کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۳۴ میلیون افغانۍ يا ۰.۲۹ سلنه جوړوي چې د مخکینۍ ربعې په پرتله ۴۷۱ میلیون افغانۍ زياتوالی ښکاره کوي چې درېو بانکونو پورې تړاو لري.

**۳.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات**

د بانکونو ترمنځ طلبات، د شتمنيو د بيلابيلو کټګوريو په منځ کې دويم ځای لري، چې د ټوليزه ناخالصه پورونو ۳۰.۷۸ سلنه جوړوي، په مخکينۍ ربعه کې يې ۴.۵۸ ميليارده افغانۍ زياتوالی ثبت کړی دی. د شتمنيو په دې کټګورۍ کې زياتوالی زياتره دوو بانکونو پورې اړه لري چې ښيي بانکي سکتور د ترلاسه شوي مالي وجوه يوه برخه د امانتونو په توګه د هېواد دننه يا بهر نورو مالي ادارو ته ليږدولې دي.

**۴.۴ ګراف وګورئ**

۴.۶ ګراف: د بانکي ډلو کې د بانکونو تر منځ د طلباتو ونډه




**سرچينه:** د مالي چارو د ځارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

**۴.۶ پانګه اچونه**

د بانکي سکتور د پانګونې پورټفوليو چې په کې د پور پانې، د حکومت بها لرونکي پاڼې او په شريکو کمپنيو کې پانګونې شاملې دي، په تېره ربعه کې ۵.۱۳ سلنه (۹٦٦ میلیون افغانۍ) وده موندلې چې د ټوليزه شتمنۍ ۱۹.۷۸ میلیارده افغانۍ يا ۷.۳۵ سلنه جوړوي. د دې سکتور د پانګونې لويه برخه له افغانستان څخه بهر ترسره شوې ده.

**۵.۶ په خزانه کې پيسې او د افغانستان بانک باندې طلبات**

په خزانه کې پيسې او د افغانستان بانک باندې طلبات د مطلق او سلنې له پلوه تر ټولو لويه کټګورۍ پاتې شوې ده چې د ټوليزه شتمنۍ ۳۹.۰۰ سلنه جوړوي او د مخکينۍ ربعې راپدېخوا چې د ۲۰۱۵ کال په ډيسمبر کې پای ته رسېږي، ۱۱.۰۱ ميلیارده افغانۍ کموالی ښکاره کوي.

بانکي سکتور د الزامي زيرمې د مقررو سره بشپړ مطابقت لري او ترلاسه شوي مالي وجوه په کراره او احتياط سره په نور ډول شتمنيو کې په کار اچوي.

**۶.۶ پوراينې**

د بانکي سکتور ټوليزه پوراينې ۴.۴٦ ميلیارده افغانۍ يا ۱.۸۱ سلنه راکمې شوې چې د تېرې ربعې د ۲۴٦.۰۱ ميليارده افغانۍ په پرتله ۲۴۱.۵۴ ميلیارده افغانۍ ته رسېږي. د نورو ټولو پوراينو پرته د ټوليزه پوراينو ټولو برخو په تېره ربعه کې کموالی ښودلی دی.

ډېری پوراينې د امانتونو (۹۵.٦٦ سلنه) څخه جوړ شوي چې ورپسې "نورې پوراينې" په دويم ځای او پور اخيستنې په دريم ځای کې راځي.

(۳) د ۱٦/۰۹/۱۳۹۲ نیټې د ۰۳/۹۲ شمېرې حسابداری لیک له مخې، هغه شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ټکټانې ادائینه یې د ۵۴۰ ورځو یا له هغه زیاتو ورځو لپاره پاتې وي.

۵.۶ ګراف: پورانپي ۴.۴۶ میلیارده افغانۍ یا ۱.۸۱ سلنه راکم شوي دي




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

### ۱.۶.۶ امانتونه

امانتونه چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه جوړوي، د ارزونې لاندې ربعه کې ۲۳۱.۰۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېرې ربعې (د ۲۰۱۵ ډیسمبر) د ۸.۴۶ سلنې زیاتوالي په پرتله ۲.۵۱ سلنه یا ۵.۹۴ میلیارده افغانۍ کموالی موندلی دی. د بانکي نظام د امانتونو د کموالي عمده لامل د افغانۍ جاري امانتونو څخه برداشتونه ویل شوي دي. د اسعارو په کچه تحلیل ښيي چې په افغانۍ نومول شوي امانتونه ۹.۲۸ سلنه کموالی موندلی (چې د ۲۰۱۵ کال په ډیسمبر کې ۰.۹۶ سلنه زیاتوالی موندلی) چې د ټولیزه امانتونو ۲۵.۹۳ سلنه جوړوي. دا په داسې حال کې ده چې په ډالرو نومول شوي امانتونو ۰.۴۳ سلنه کموالی موندلی (د ۲۰۱۵ کال په ډیسمبر کې یې ۱۱.۴۴ سلنه زیاتوالی موندلی) چې د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۶۹.۳۴ سلنه جوړوي.


خصوصي بانکونو ۱۵۱.۰۴ میلیارده افغانۍ امانتونه لاسته راوړي دي چې د تېرې ربعې د ۱۴.۱۵ سلنې زیاتوالي په پرتله په دې ربعه کې ۰.۰۳۷۳ سلنه کموالی ښکاره کوي، چې د بانکي نظام د امانتونو ۶۵.۳۷ سلنه جوړوي.

د دولتي بانکونو ونډه ۶۰.۱۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر میاشتې راهیسې یې ۲.۷۳ سلنه زیاتوالی موندلی (د ۲۰۱۵ کال په ډیسمبر کې یې ۳.۷۷ سلنه کموالی موندلی)، چې د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۲۶.۰۲ سلنه جوړوي.

د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډه ۱۹.۸۸ میلیارده افغانۍ ده چې ۷.۸۱ سلنه کموالی موندلی (د ۲۰۱۵ کال په ډیسمبر کې یې ۷.۰۲ سلنه زیاتوالی موندلی) چې د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۸.۶۱ سلنه جوړوي.


د امانتونو د ډولونو له پلوه، جاري امانتونه د ټولیزه امانتونو ۷۵.۱۸ سلنه جوړوي چې ۵.۱۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. همدا رنګه د سپما امانتونه د ټولیزه امانتونو د ۱۹.۰۶ سلنې ونډې او ۵.۵۵ سلنه زیاتوالي سره دویم ځای لري، په داسې حال کې چې موده ایزه امانتونه د ټولیزه امانتونو د پورټوفولیو ۵.۷۶ سلنه جوړوي چې د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر میاشتې په پرتله ۸.۸۷ سلنه لوړوالی موندلی دی.

۶.۶ ګراف: د امانتونو د اسعارو ترکیب





سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

۷.۶ ګراف: په افغانۍ نومول شوي امانتونه





سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

۸.۶ ګراف: امانتونه ۲.۵۱ سلنه یا ۵.۹۴ میلیارده افغانی راکمې شوي دي




۹.۶ ګراف: د امانتونو ویشنه




**سرچینه:** د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

### ۲.۶.۶ پور اخیستنې

د بانکي نظام د تمویل په ټولیزه جوړښت کې د پور اخیستنې ونډه ۱۷.۰۲ سلنه راکمه شوې چې د ۲۰۱۶ کال د مارچ میاشتې په پای کې ۳.۶۹ میلیارده افغانۍ ته رسېدلې او د تېرې ربعې د ۰.۱۳ سلنې کموالي په پرتله د ټولیزې پورواینې ۱.۵۳ سلنه جوړوي. د پور اخیستنې اوسنی وضعیت درېو بانکونو پورې نسبت ورکول کېږي.

### ۷.۶ نقدینګی (سیالیت)

د نقدینګی خطر کولای شو د پور اخیستونکو او امانت اېښودونکو د تقاضاوو د پوره کولو لپاره د کافي سیالو شتمنیو نه درلودل، تعریف کړو. ټول بانکونه اړ دي چې د نقدینګۍ څخه د راولاړې شویو ستونزو د مخنیوي لپاره سیالیت په مطلوب حد کې وساتي.

په همدې ترتیب، بانک باید د شتمنیو یوه مسؤله کمېټه (ALCO) ولري چې د دې کمېټې دندې د بانک د سیاستونو په پام کې نیولو سره د نیمګړتیاوو د تحلیل او تجزیې له لارې د بانک د نقدینه ګی، د حساسیت د ټیسټ، د سناریو د ښنې، د نغدي جریان د ښنې او داسې نورو له مدیریت څخه عبارت دي.

### ۳.۶ جدول: د بانکي سکتور د سلامتیا مهم مالي شاخصونه

| نسبت په سلنه | ۲۰۱۰ مارچ | ۲۰۱۱ مارچ | ۲۰۱۱ مارچ | *۲۰۱۱ مارچ | ۲۰۱۲ ډیسمبر | ۲۰۱۳ ډیسمبر | ۲۰۱۴ ډیسمبر | ۲۰۱۵ ډیسمبر | ۲۰۱۶ مارچ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د پانګې د کفایت ټولیز نسبت | 25.81 | -14.46 | 30.39 | 23.06 | 21.84 | 26.34 | 26.46 | 19.94 | 21.14 |
| د پانګې د کفایت اصلي نسبت | 24.19 | -14.51 | 30.29 | 23.98 | 19.97 | 24.65 | 26.09 | 19.66 | 19.63 |
| په ټولیزه ناخالصه پورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه | 0.5 | 48.4 | 3.75 | 5.15 | 5.31 | 5.1 | 8.09 | 12.34 | 15.48 |
| له شتمنی ترلاسه شوې ګټه | 1.41 | -20.08 | 0.24 | -1.21 | -0.54 | 0.74 | 0.90 | 0.20 | 4.35 |
| له اکویټي ترلاسه شوې ګټه | 10.35 | -520.66 | 1.9 | -17.9 | -7.17 | 10.03 | 7.35 | 1.69 | 43.74 |
| د سیالیت نسبت (پراخه کچه) | 59.19 | 63.32 | 63.83 | 57.37 | 72.13 | 67.93 | 73.6 | 68.22 | 68.89 |
| په ټولیزه شتمنیو کې د سیالې شتمنی ونډه | 0.38 | 40.58 | 47.01 | 55.82 | 63.75 | 73.18 | 73.28 | 75.05 | 74.40 |

* د کابل بانک پرته

**سرچینه:** د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۸.۶ پانګه**

بانکي نظام کافي پانګه لري. د بانکي نظام پانګه ایز مالي وجوه ۲۷.۸۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې په پرتله ۳.۱۷ میلیارده افغانۍ یا ۰.۱۲۸۵ سلنه زیاتوالی موندلی دی. په ټولیزه پانګه ایزه مالي وجوه کې زیاتوالی د ګټې او د پانګې ورود ته نسبت ورکول کیږي.

د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت په ټولیزه توګه ۲۱.۱۴ سلنه دی.

په بېل (جلا) ډول تحلیل ښیي چې د بانکي نظام د یو بانک پرته نور ټولو بانکونو د ټیټ حد څخه پورته د پانګې د کفایت نسبت ثبت کړی دی. (۱۲ سلنه د خطر پر اساس عیار شوې شتمنۍ).

**۱.۸.۶ د سیالیت نسبت (پراخه کچه)**

بانکونه اړ دي چې د نغدي (سیالو) شتمنیو نسبت له ۱۵ سلنې څخه ټیټ ونه ساتي. دا کار د سیالیت د کمښدو د مخنیوي لپاره ښه لاره ګڼل کیږي.

په عموم توګه، په دې موده کې په بانکي نظام کې د سیالیت ډېرښت لیدل شوی دی (د بانکي سکتور د ټولیزې شتمنۍ ۶۹ سلنه له سیالو شتمنیو څخه جوړې شوې). په منځنۍ ډول د ټول بانکي نظام د پراخه سیالیت نسبت ۶۸.۸۹ سلنه دی. د ټولو بانکونو د نقدینګۍ نسبت له ټاکلي حد څخه لوړ دی.

**۹.۶ ګټورتیا (نافعیت)**

بانکي نظام د ۲۰۱۶ کال په لومړي ربعه کې په ټولیزه توګه د خالصې ګټې ۲.۹۳ میلیارده افغانۍ ګټه ترلاسه کړې ده چې د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر میاشتې د خالصه ګټې د ۸۱۷ میلیون افغانۍ په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

د بانکي نظام د ګټورتیا زیاتوالی چې د ۶.۵ جدول کې بیان شوی، زیاتره د یو دولتي بانک د غیر ټکټاني عاید کې د پام وړ زیاتوالي پورې اړه لري چې د پانګې اچونې ملکیتونو د بیا ځلي ارزښت ټاکنې او د عادي لګښتونو د کموالي په شان نورو عواملو څخه سبب شوی دی. دا په داسې حال کې ده چې د ارزونې لاندې ربعه کې د پور د زیان جبران زیاتوالی او د غیر ټکټاني عاید کموالی موندلی دی.

په پایله کې، له شتمنۍ ترلاسه شوې ګټه د مخکینۍ ربعې د ۰.۳۱ سلنې څخه ۴.۳۵ سلنې ته زیاتوالی موندلی او له اکویټي څخه ترلاسه شوې ګټه د مخکینۍ ربعې د ۲.۵۵ سلنې څخه ۴۳.۷۴ سلنې ته لوړوالی موندلی دی.

په ټولیزه توګه، شپږو بانکونو د ارزونې لاندې موده کې ۳۲۹ میلیون افغانۍ زیان لیدلی، په داسې حال کې چې په تېره ربعه کې (د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر پای) څلورو بانکونو ۱۹۳ میلیون افغانۍ زیان درلودلی دی.


د اصلي عاید (Core Income) پر بنسټ درې بانکونه په زیان کې دي، حال دا چې په تېره ربعه کې دوه بانکونه په زیان کې وو.

د بانکي ډلې پر اساس تحلیل ښايي چې دولتي بانکونو او د بهرنیو بانکونو نمایندګیو د ارزونې لاندې ربعه کې ګټې ترلاسه کړې، په داسې حال کې چې خصوصي بانکونو زیان لیدلی دی. ۱۰.۶ ګراف وګورئ.

د بانکي نظام د نافعیت لویه ونډه دولتي بانکونو پورې اړه لري چې ۲.۹۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي او ۲.۷۸ میلیارده

افغانی یا ۱۶۰۷.۵ سلنه زیاتوالی موندلی دی. د بهرنیو بانکونو نمایندګی د ۹۲ میلیون افغانی ګټې سره دویم ځای لري چې د تېرې ربعې په پرتله ۱۳۶ میلیون افغانی کموالی ثبت کړی دی، په داسې حال کې چې خصوصي بانکونه په زیان کې دي چې د پور زیان د جبران د زیاتوالي له امله ۱۱۱ میلیون افغانی ته راښکته شوی دی.

۱۰.۶ ګراف: د بانکي نظام ګټورتیا





**سرچینه:** د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

**۴.۶ جدول: د ګټې او زیان جدول**

| | ۱۳۹۳ (د ۲۰۱۵ مارچ) | ۱۳۹۴ (۲۰۱۵ ډيسمبر) | ۱۳۹۴ (۲۰۱۶ مارچ) | د ربعه په ربعه بدلون سلنه |
|---|---|---|---|---|
| د ټکټاني عاید | 2,131 | 2,266 | 2,198 | -3.00 |
| د ټکټاني لګښت | 519 | 501 | 500 | -0.19 |
| د ټکټاني خالص عاید | 1,612 | 1,765 | 1,699 | -3.74 |
| غیر ټکټاني عاید | 926 | 2,104 | 4,067 | 93.29 |
| غیر ټکټاني لګښتونه | 1,354 | 1,832 | 1,327 | -27.56 |
| د معاشونو مصارف | 896 | 926 | 909 | -1.83 |
| د پور د زیان جبران | 1,011 | 284 | 515 | 81.33 |
| له مالیې څخه مخکې ګټه/زیان | - 723 | 827 | 3,015 | 264.57 |
| له مالیې څخه وروسته ګټه/زیان | -801 | 817 | 2,935 | 259.24 |


**سرچینه:** د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

۱۱.۶ ګراف: د شتمنۍ او د اکویټي څخه ترلاسه شوې ګټه




**سرچینه:** د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

۱۲.۶ ګراف: د ټکټاني نهایي نرخ




**سرچینه:** د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

**۱۰.۶ د اسعارو خطر**

د اسعارو پرانیستی عمومي وضعیت د خطر کچه تر ډېره حده پورې په هغه محدوده کې د بانکونو لخوا په پام کې نیول شوې چې د افغانستان بانک لخوا ټاکل شوې ده. بانکونه په ټولیزه توګه د افغانستان بانک لخوا د اسعارو د عمومي پرانیستي وضعیت لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدود په مطابقت کې قرار لري، پرته له درې بانکونو څخه چې د اسعارو د پرانیستي عمومي وضعیت او همدا ډول د اسعارو د انفرادي وضعیت (امریکایي ډالرو اوږد او لنډمهاله وضعیت) لري، له ټاکل شویو حدودو څخه سرغړونه کړې ده.

د بانکي نظام د مقرراتي پانګې باندې د اسعارو په نرخ کې د بدلونونو اغېزه ښکاره کوي چې د اسعارو د ۲۰ سلنې مبادلوي ارزښت د لوړېدو سره د بانکي نظام مقرراتي پانګه ۸.۸۱ میلیارده افغانۍ ډېرېږي او د دې برعکس راکمېدلی شي. همدا ډول، د اسعارو د ارزښت ۴ سلنه زیاتوالی د ۱.۷۶ میلیارده افغانۍ سره ورته والی لري او برعکس.

**۱۱.۶ د ټکټانې د نرخ خطر**

ټول بانکي نظام د ټکټانې د نرخ د حساس وضعیت څخه برخمن دی. خو بیا هم د بانکونو د ټکټانې نرخ د حساسیت د مهال ویش محاسبه ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټکټانې خالص عاید به په راتلونکو ۱۲ میاشتو کې په بازار کې د ټکټانې د درې سلنې نرخ د زیاتوالي (د ټکټانې د زیاتېدونکي نرخ شاک) له امله ۱.۷۹ میلیارده افغانۍ ته زیات شي. برعکس، که چیرې د ټکټانې نرخ ۳ سلنه ټیټوالی (د ټکټانې د ټیټېدونکي نرخ شاک) ومومي له ټکټانې څخه ترلاسه شوی عاید به ۱.۷۹ میلیارده افغانۍ ټیټ شي. که چیرې د دوو بانکي ادارو د ټکټانې نرخ په سلو کې ۰.۰۳ سلنه زیات شي، دا کار به د راتلونکو ۱۲ میاشتو په موده کې د دې بانک د خالصه ټکټانې عاید راکم کړي.

د بانکونو د شتمنیو د حساسیت په میزان باندې د فشار راوړلو عمده لامل د پورواینې د ټکټانې د اداینې په نسبت د شتمنیو د ټکټانې د اداینې زیاتوالی دی. که څه هم دا کار د بانکونو د خالصه ټکټانې کچه او ګټه زیاتوي، خو په بازار کې د نرخونو د ناڅاپي کموالي له امله بانکونه ډېر زیانمنوي.

**مدیره پلاوی**

| | |
|---|---|
| د پولي سیاست د لوی آمریت آمر: | سید اسحاق علوي |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | سید مرتضی مظفري |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | نایب خان جمال |

**مدیر مسوول**

اقتصادي څېړونکی، د پولي سیاست لوی آمریت: احمد خالد

**ترتیب کوونکی او طراح**

| | |
|---|---|
| د مالي سکتور لوی شننوونکی: | زرلشت معصوم |

**د کارکوونکو ونډه**

| | |
|---|---|
| اقتصادي څېړونکی: | میر توفیق انصاري |
| د بهرني سکتور شنونکی: | ولي الله روحي |
| د پولي سکتور احصائیه پوه: | احمد جواد فریاد |
| د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت | |
| د داخلي برخې مدیره: | انیسه اثیر |
| د حقیقي سکتور شنونکی: | شفیق احمد فقیر زاده |
| ژباړه: | مسعود ودان |
| ایډیټ: | ایمل هاشور، د اسنادو او اړیکو عمومي آمر |
| د سمون چارې: | یما عفیف د نشراتو مدیر |
| ډیزاین: | خالد احمد فیضي |
| عکس: | زیرک ملیا |

د زیاتو معلوماتو لپاره:

| | |
|---|---|
| ټلیفون: | ۰۲۰-۲۱۰-۳۹۳۲ |
| فکس: | +93 (0) 202100305 |
| برښنا لیک: | info@dab.gov.af |
| ویب پاڼه: | www.dab.gov.af |
| فیس بوک: | https://www.facebook.com/AFGCentralbank |
| ټویټر: | https://twitter.com/AFGCentralbank |

د اسنادو او اړیکو لوی آمریت
برښنالیک: info@dab.gov.af
ټلیفون: ۲۱۰۴۱۴۶ ۲۰ ۹۳+






د اسنادو او اړیکو لوی آمریت
برښنالیک: info@dab.gov.af
ټلیفون: ۲۱۰۴۱۴۶ ۲۰ ۹۳+